اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون
کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات
Oversight Commission on Access to Information

جمهوری اسلامی افغانستان
د افغانستان اسلامی جمهوریت
Islamic Republic of Afghanistan



# اطلاعاتو ته لاسرسي په حقیقت بدلول

## د افغانستان اطلاعاتو ته د لاسرسي
## ملي ستراتیژي ۱۳۹۶ - ۱۳۹۹

زمری ۱۳۹۶

همکاران:

(برائت الزمه) دغه سند د متحده ایالاتو د خلکو د همکارۍ له لارې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) لخوا جوړ شوی، د دغه سند محتوا اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون پورې اړوند ده او لزوماً د پورته ذکر شوې پراختیایي ادارې د لیدلوري څرګندونه نه کوي.

© ۱۳۹٦ د طبع او نشر حق یې محفوظ دی

اطلاعاتو ته د لاسرسي د کمیسیون لخوا نشر شوې

پته: سالنګ وات، د ملي آرشیف انګړ

برېښنالیک: info@ocai.af

ویبپاڼه: www.ocai.af

# اطلاعاتو ته لاسرسي په حقیقت بدلول

## د افغانستان اطلاعاتو ته د لاسرسي ملي ستراتیژي ۱۳۹۶ - ۱۳۹۹

زمری ۱۳۹۶

# لیکلړ


اختصارات .......... ب

سریزه ج

لنډیز ۱

پېژندنه ۳

د وضعیت ارزونه.......... ٤

ټولیز لرلید.......... ٥

اطلاعاتو ته د لاسرسي د فعالانو لپاره لارښودي ماموریت.......... ٥

افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره د کارنده چاپېریال جوړول.......... ٦

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون دندې .......... ٧

د پیاوړو ټکو، کمزوریو، فرصتونو او ننګونو شننه .......... ٨

اطلاعاتو ته د لاسرسي ملي ستراتیژۍ پلان او پلي کول .......... ٩

د پایلو انځورول او تطبیقي مدیریت .......... ٩

اطلاعاتو ته د لاسرسي ښکېلې خواوې .......... ۱۰

مهمې پایلې او د بدلون لارې.......... ۱۰

مهمې پایلې .......... ۱۱

د بدلون لارې .......... ۱۲

حکومتي پرېکړه نیوونکي او عامه نهادونه .......... ۱۲

د مدني ټولنو غړي.......... ۱۲

د رسنیو فعالان.......... ۱۲

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون .......... ۱۳

اطلاعاتو ته د لاسرسي د ښکېلو غاړو د ښکېلتیا د ځواکمنولو ستراتیژي.......... ۱۳

حق غوښتنه .......... ۱۳

پوهاوی .......... ۱٤

وړتیا لوړونه .......... ۱٥

تطبیقي پلانونه.......... ۱۷

# اختصارات

| | |
|---|---|
| AOP | جمهوری ریاست د چارو اداره |
| ATI | اطلاعاتو ته لاسرسي |
| CSAs | مدني ټولنو فعالان |
| CSC | اداري اصلاحاتو کمیسیون |
| CSOs | |
| ECIR Committee | د دیني، مالوماتي، کلتوري او تعلیمی چارو کمیته |
| GDMs | مقامات دولتی |
| IDLG | سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره |
| MAs | رسنیز فعالان |
| MOIC | اطلاعاتو او کلتور وزارت |
| MOJ | عدلیې وزارت |
| NSC | ملي امنیت شوری |
| OCAI | اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون |
| OM | د لرلید طرحه |
| OS | د پایلې بیان |
| PACC | فساد سره د مبارزې پارلماني څانګه |
| PIO | اطلاع رسولو د مرجع مسئول |
| PIs | عامه بنسټونه |
| PSAs | ملکي خدماتو اعلامیه |
| RTI | اطلاعاتو ته د لاسرسي حق |

## سریزه

څو کاله مخکې په افغانستان کې اطلاعاتو ته لاسرسي په حقيقت بدلول ناشونی برېښېد، سره له دې چې افغانستان يو جګړهځپلی هېواد دی او په پراخ فساد او ضعيف مديريت کې نوم لري، خو بيا هم افغانستان د ښې حکومتولۍ د پياوړتيا پر لوري بنسټيز ګامونه پورته کړي. اطلاعاتو ته لاسرسي، د ژورنالستانو او نورو فعالانو په شمول د مدني ټولنو يوه عمده غوښتنه وه چې په دولتي ادارو او پرېکړو نيولو کې، د روڼتيا د ډېرښت لپاره نوې هيلې راټوکولې. خو دا اسانه لاره نه ده او په ريښتيني مانا، د روڼ او مسؤول هېواد ارمان ته د رسېدو لپاره لا اوږد مزل پاتې دی.

په نړۍ کې ولسواک او پرمختلونکي حکومتونه نه يوازې دا چې اطلاعاتو ته لاسرسي، د خپل مشروعيت لپاره اړين بولي، بلکې په دې هم پوهيږي چې اطلاعاتو ته لاسرسي د ښې حکومتولۍ يو ځواکمن عنصر دی. اطلاعاتو ته د لاسرسي (چې د بيان د آزادۍ يوه اساسي برخه جوړوي) د حقوقي چوکاټ جوړولو په برخه کې هندوستان يو مخکښ هېواد دی. همدا ډول په سيمه کې ځينې نورو هېوادونو لکه سريلانکا، او ځينې نورو په افريقا کې لکه لايبيريا او سيراليون هم، د روڼتيا د پراختيا لپاره اطلاعاتو ته د لاسرسي غښتلي حقوقي چوکاټونه جوړ کړيدي.

خو په نړۍ کې مدني ټولنې په پراخه کچه د دولتي روڼتيا راوستلو اصلي لوبغاړي ګڼل کيږي. ځکه مدني ټولنې د حکومت د ځواب‌ويلو، د اطلاعاتو غوښتلو لپاره د خلکو د ځواکمنولو، د اطلاعاتو د وړاندې کولو د کلتور د پياوړتيا او د اطلاعاتو پرانستو معيارونو ته د تعهد لپاره، د مسؤولينو او حق-لرونکو (خلکو) ترمنځ مهم پُل دی. په دې برخه کې، افغان مدني ټولنې او رسنۍ له افغان دولت څخه د نوموړو غوښتنو  په مطرح کولو کې په پراخ ډول ښکېلې دي. له نيمې لسيزې څخه ډېره موده، افغان مدني ټولنو په نه ستړې‌کېدونکې توګه،  اطلاعاتو د لاسرسي لپاره فعاليت وکړ. په ځواب کې ولسمشر غني د خپل واک ته د رسيدو په لومړيو شپو ورځ کې (۱۳۹۳ کال کې)، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون لاسليک کړ. ورپسې د قانون د پلي کېدو د څارنې په موخه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسيون جوړ شو.

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کميسيون، د جوړښت راهيسې د دولت له‌خوا د شته ننګونو لکه د مالي، فني او سياسي ملاتړ نه شتون او د ډېرو دولتي نهادونو له‌خوا د قانون څخه د بې‌پروايۍ سربېره د پام وړ پرمختګ کړی دی. اطلاعاتو ته د لاسرسي دودول ددې کمېسيون لپارهستره ننګونه ده، ځکه دلته د مستبدو رژيمونو څخه بيوروکراسۍ له داسې مفکورې سره په ميراث راپاتې چې حکومت، اتباع له خپله ځانه ټيټ ګڼي او ځانونه ورته د اطلاعاتو د امانتدارو پرځای د اطلاعاتو څښتنان ښکاري.

خو بيا هم، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسيون د مدني ټولنو او نورو ښکېلو غاړو سره يوځای پورتنۍ مفکوره ننګولې ده. دا کار يې د پرېکړه نيونکو تر منځ د قانون د پوهاوي په مرسته ترسره کړی، ډېر مهم يې دا چې هڅوی ته يې ښوولې چې څنګه اطلاعاتو ته لاسرسي، د دولتي نهادونو سره مرسته کوي چې لا اغېزمن شي او د افغانانو له نظره نور هم قانون ته ژمن ښکاره شي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسيون د خلکو ترمنځ دداسې حقوقي چارو په اړه هم په پوهاوي کې مهم رول لوبولی چې خلک له دولت څخه د اطلاعاتو لپاره رسمي غوښتنې وکړي. او اړين اقدامات يې تر سره کړي تر څو د متقاضيانو شکايتونه تر لاسه او هڅوی ته رسيدنه وکړي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسيون، د قانون د تعديل د طرحې او اطلاعاتو ته د لاسرسي د تطبيق په برخه کې د نورو لوايحو او طرزالعملونو په شمول، اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره د قانوني چوکاټ په پياوړي کولو هم کار کوي. د بېلګې په توګه، د اطلاعاتو د غير ضروري طبقه‌بندۍ او د اطلاعاتو له بې‌حده  محرميت څخه د مخنيوي لپاره کميسيون د اطلاعاتو د طبقه‌بندۍ په  قانون کار کوي.

بې له شکه، د اطلاعاتو د خپلواکۍ لوړې درجې ته د رسېدلو لپاره سټراټيژيکې لارې ته اړتيا ده. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسيون په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون په اغېزمن تطبيق کې د سټراټيژيکې لارې تعقيبولو ته ژمن دی. اطلاعاتو ته د لاسرسي ملي سټراټيژي (۱۳۹۶- ۱۳۹۹) د مدني ټولنو، ژورنالستانو، ملکي خدماتو او دولتي چارواکو

په شمول د ګڼو نورو ښکېلو غاړو په مشوره جوړه شوې ده. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون ددې سټراټیژۍ د پلي کولو لپاره د تطبیقي مدیریت لاره غوره کړې چې له تجربو زده‌کړه وکړي او د اړتیاو او حالاتو د بدلېدو سره ځان عیار کړي. موږ د خپلو همکارانو او ملګرو سره ددې سټراټیژۍ د پلي کولو لپاره ژمنه کوو چې د افغانستان حقایقو ته په کتو سره داسې نوې لارې ومومو چې په نړۍ کې د حقوقي او ټکنالوژیکي نوښتونو څخه ګټه پورته کړو.

باید ټینګار وکړم چې ددې سټراټیژۍ بریالي پلي کول د ټولو ښکېلو خواوو رېښتینې مرستې ته اړتیا لري، په همدې خاطر په ټولو ښکېلو غاړو غږ کوم چې خپل مسؤولیتونه په غاړه واخلي او اطلاعاتو ته د لاسرسي لوړې درجې ته رسېدلو لپاره، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون ته د مرستې لاس ورکړي. غواړم چې د ټولو همکارانو څخه، د ډیموکراسي انټرنیشل، انټرنیوز، د متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوت، مدني ټولنو او دولتي نهادونو څخه چې ددې سټراټیژۍ په جوړولو کې یې اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون ملاتړ کړی، او په افغانستان کې یې اطلاعاتو ته د لاسرسي بهیر ژوندی ساتلی، مننه وکړم.

کله چې ددې سټراټیژۍ بیاکتنه کوئ، له تاسو غواړم چې دا په یاد ولرئ چې په پراخه کچه د شته فساد او ضعیف مدېریت کلتور په خاطر، د افغانستان دولت راتلونکی په خطر کې دی. همدارنګه له تاسو هیله لرم چې، هغه څه مو چې دلته د افغان چارواکو او خلکو ترمنځ د اطلاعاتو د لاسرسي د کلتور دودولو له لارې، د پراخې روڼتیا او مسؤولیت‌پېژندنې ته د رسېدو لپاره وړاندې کړي، په سمه توګه پرې غور وکړئ. زه هیله لرم چې تاسې به ددې سټراټیژۍ د پلي کېدا لپاره خپل پیاوړی او تلپاتې ملاتړ وکړئ.

سید اکرام افضلي

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون رئیس

# لنډیز

د اطلاعاتو حق یا اطلاعاتو ته د لاسرسي حق، یو بنسټیز بشري حق دی او د دولت او خلکو د خدمت لپاره یوه ځواکمنه وسیله ده. د کارنده ولسواکۍ او مسؤول دولت لپاره، د فعالو او پوهو خلکو شتون ته حیاتي اړتیا ده. د روڼتیا د پراختیا، د فساد د افشا، دولتي نهادونو مسؤول ګڼلو او د اساسي دولتي خدماتو په څرنګوالي ژر پوهېدو په برخه کې، اطلاعاتو ته لاسرسي یو پرېکنده رول لوبوي.

د اطلاعاتو حق د دولت لپاره هم مهمې ګټې لري. ښایي تر ټولو مهمه یې دا وي چې د خلکو او دولت ترمنځ اړیکې ښې کړي، اعتبار لا پسې ټینګ شي او په عامه چارو کې خلک په غوره توګه ښکېل شي.

ددې موضوع اهمیت ته په کتو سره، د افغانستان دولت، د مدني ټولنو او رسنیو په همکارۍ، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون تصویب کړی چې د ۱۳۹۳ کال د لړم به ۲۴مه نیټه توشیح او د عدلیې وزارت په رسمي جریده کې له خپرېدو وروسته نافذ شو. ددې قانون د ځواکمنتیاوو څخه یوه یې شپاړسمه ماده ده چې د څارنې یو خپلواکه اداره (اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون) جوړېدل دي چې ددې قانون د پلي کولو څخه څارنه او ملاتړ وکړي.

څوک دا نشي ویلای چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې، د یوې حقوقي او رسمي ادارې په جوړولو او اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون څخه ګټې اخیستنې په موخه د پوهاوي پروګرامونو په دایرولو سره به افغان دولتي چارواکي په **فعاله توګه اطلاعات وړاندې کړي** او یا دې هم په دې اړه د وګړو غوښتنې لوړې شي. که څه هم د حقوقي جوړښت درلودل له یوې خوا او اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه پوهاوی له بلې خوا، اطلاعاتو ته د خلکو د تقاضا په ډېریدو کې رغنده رول لوبوي اما دا کار قطعاً کافي ندی، بلکې اطلاعاتو ته د لاسرسي د ښکېلو غاړو (دولتي چارواکو، د مدني ټولنو فعالانو، رسنیو او خلکو) تر منځ اړیکې باید داسې جوړې شي چې د اطلاعاتو وړاندې کوونکو او اطلاعاتو غوښتونکو ترمنځ بهیر اسان او اغېزمن کړي. مدني فعالان او رسنۍ، اطلاعاتو ته د لاسرسي په پراختیا او اجرا کولو کې مخکښ رول لري او د اطلاعاتو غوښتونکو او وړاندې کوونکو ترمنځ، اړیکې پیاوړې کوي او د دغې پروسې ګړندیتوب تضمینوي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون ددې اړیکو جوړولو مهم لوبغاړی دی؛ د دولت له‌خوا د قانون رعایت ډاډمنوي او د خلکو سره مرسته کوي چې د اطلاعاتو غوښتلو حق وکاروي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون د دولتي بنسټونو او اړوندو ادارو سره، د اطلاعاتو د لاسرسي د قانون د پلي کولو لپاره د سالمو پالیسیو او پروسیجرونو په جوړولو کې، د همغږۍ کار په وسیله د ملي سټراټیژۍ لاسته‌راوړنې پیاوړې کوي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانونو د پلي کولو، او د رغنده څارنې په موخه د مدني فعالانو او رسنیزو فعالانو وړتیا لوړه کړي؛ چې د اطلاعاتو لپاره سمې غوښتنې ثبت کړي؛ او د سرغړاوی په قضیو کې کمیسیون ته شکایت وړاندې کړي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به د دولتي او غیر دولتي بنسټونو سره ګټورې اړیکې جوړې کړي چې په پراخه کچه د عامو خلکو ترمنځ، اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه د پوهاوې کچه لوړه شي. کمیسیون به د مدني ټولنو د فعالانو وړتیا لوړه کړي چې په خپلو سیمو کې خلک دې ته چمتو کړي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي له حقه ګټه پورته کړي. له نړیوالو تجربو څخه په زده‌کړه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به اړین جوړښتونه او تلنلارې جوړې کړي ترڅو ترې داسې یو خپلواک او معتبر بنسټ جوړ شي چې په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي اجنډا ته د پرمختګ په موخه، د مسؤولینو او خلکو سره له نږدې کار وکړي.

لاندې هغه **درې سټراټیژیکې برخې** دي چې له یوه اړخه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون د پیاوړتیا او پلي کېدو لپاره، او له بله اړخه، د خلکو د اطلاعاتو د حق کارولو لپاره د هغوی وړتیا جوړولو او د اطلاعاتو د غوښتنې لپاره د دوی د چمتو کولو په برخه کې، ډېرې اړینې دي:

**حق‌غوښتنه:** اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون، مدني فعالان او رسنۍ به د دې مبارزې په لومړۍ لیکه کې دي، ترڅو دولتي چارواکي (لکه د ولسمشر دفتر او د عدلیې وزارت) دې ته چمتو کړي چې په قانون کې د لازم تعدیلات راولي، چې په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي د حقوقي چوکاټ پیاوړتیا لپاره، اصلي او تکمیلي مقررات وضع شي، او کمیسیون به هم خپل داخلي مقررات پلي کوي.

**پوهاوی:** نړیوالو تجربو ښودلې چې، یوازې هغو سیمو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قوانین په اغېزمنه توګه پلي کېدای شي چې د خلکو له خوا د اطلاعاتو د غوښتنې قوي دریځ موجود وي. د اطلاعاتو لپاره د عامه غوښتنې دریځ جوړولو لپاره اړتیا ده چې لومړی داسې عامه پوهاوی رامنځ ته شي، چې خلک اطلاعاتو ته د لاسرسي له حقه خبر شي او پوه شي چې څنګه حق-لرونکي (خلک) کولای شي د ځان په ګټه د اطلاعاتو غوښتنه وکړي. ددې کار اندازې ته په کتو سره، اړینه ده چې اطلاعاتو ته د لاسرسي ځینې فعالان، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون، دولتي پرېکړه‌نیوونکو، مدني ټولنو او رسنیو په شمول ټول باید دې موضوع ته پام وکړي. د اطلاعاتو د لاسرسي فعالان باید په دې هم پوه شي چې یوازې پوهاوی د سلوک او رویو بدلولو لپاره کفایت نه کوي. د پوهاوي چارې او تکتیکونه باید داسې ترتیب او ترسره شي چې دواړه خواوې، هم مسؤلین او هم خلک د خپلو کارونو، عادتونو او اړیکو بدلولو ته وهڅېږي تر څو اطلاعاتو ته د لاسرسي د ټولو اړخونو په اهمیت پوه شي.

**وړتیا لوړونه:** د کمیسیون د غړو، د دارالانشاء کارکوونکو او د چارواکو د وړتیا لوړونې لپاره ګڼو هڅو ته اړتیا لیدل کیږي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به د مهمو دولتي چارواکو او مدني فعالانو سره لاس یو کړي چې خپلو غړو، کارمندانو او د اطلاع رسولو د رسمي مراجعو مسؤولینو ته د روزنې پروګرامونه برابر کړي. د اطلاعاتو لپاره د **عامه تقاضا** ډېرونې لپاره، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون د اغېزمن استعمال لپاره، د مدني ټولنو او رسنیزو فعالانو د وړتیا لوړونې هڅه وکړي او ددې ډلو استازو ته به رسمي روزنې ورکړي. د اطلاعاتو **غوښتنو ته ځواب**، هغه هم په لنډ وخت کې او په هغه شرایطو چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون له‌خوا جوړ شوي، د قانوني مسؤولیتونو په اړه د دولتي چارواکو (د اطلاع رسولو د مراجعو مسؤلین، د ادارو رئیسان) د پوهې او مهارتونو لوړولو پرته، په اسانۍ سره ترلاسه کېدای نشي.

د افغانستان په ځېر په جګړه‌ځپلو سیمو کې خلکو ته، د ریښتینو، مستندو، او پر وخت پایلو لاسته راوړل، د قدرت څخه د محرومیت احساس پر وړاندې حیاتي رول لري، چې خلک په دې وسیله په ټولنه کې د مثبت تغیر راوستلو جوګه کېدای شي. خو دا هڅې د ځینو وجوهاتو له امله ډېرې پېچلې شوي، لکه د امنیت موضوع، د غیر دولتي لوبغاړو تخریبي ورانکاري، اقتصادي وضعیت، دولتي کړنې او سیمه‌ییز او نړیوال تحرکات، چې دا ټول ددې توان لري چې سالم پلان شوي پروګرامونه او د پلي کېدو سمې طرحې ګډې‌وډې کړي.

دې پېچلو حالاتو ته په ځواب کې، د سټراټیژۍ د جوړولو په بهیر کې د (پایلو انځورولو) طریقه کارول شوې، ترڅو اطلاعاتو ته د لاسرسي د مهمو لوبغاړو لکه حکومتي پرېکړه نیوونکو او دولتي چارواکو، مدني ټولنو او رسنیزو فعالانو د سلوک په بدلون تمرکز وکړي.

په لاندني سټراټیژیک چوکاټ کې لرلید، ماموریت او د سلوک مطلوب بدلون، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون او اطلاعاتو ته د لاسرسي نور فعالان به یې د ترلاسه کولو هڅه کوي، ځای شوي. همدا ډول د پرمختګ نښې هم پکې لیکل شوي چې پر مټ به یې د لاسته راوړنو د ارزونې لپاره د څرنګوالي او څومره‌والي پر اساس اطلاعات راټولوي.

# پېژندنه

د اطلاعاتو حق یا هغه اطلاعاتو ته چې دولتي نهادونو له ځان سره ساتلي، د لاسرسي حق یو بنسټیز بشري حق دی او د دولت او خلکو د خدمت لپاره یوه ځواړخیزه وسیله ده. د کارنده ولسواکۍ او مسؤول دولت لپاره د فعالو او پوهو اتباعو شتون ته حیاتي اړتیا ده. د اطلاعاتو حق خلکو ته په حکومتولۍ کې د مشارکت لپاره اړینه وسیله په لاس ورکوي، او هغه حس هم ورکوي چې دوی دا کار کولای شي، نو ځکه دا حق په پرېکړه نیولو کې د خلکو ګډون پیاوړی کوي. همدارنګه ددې حق پر مټ خلک د دولت په پالیسیو ښه پوهېدلی شي، ژورنالستانو سره د تحقیقاتي راپورونو په جوړولو کې مرسته کولای شي او تر ټولو مهمه یې دا چې د دولت مشروعیت ځواکمنوي. اطلاعاتو ته ګټور لاسرسی د روڼتیا په پیاوړتیا، د فساد په افشاء، د دولتي نهادونو په مسؤول پېژندلو او د عامه خدماتو د څرنګوالي په ښه پوهېدلو کې پرېکنده رول لوبوي.

د اطلاعاتو حق د دولت لپاره هم مهمې ګټې لري، ښایي تر ټولو مهمه یې دا وي چې د خلکو او دولت ترمنځ اړیکې ښې کړي، اعتبار لا پسې ټینګ شي او په عامه چارو کې خلک په غوره توګه ښکېل شي. د خلکو مثبته ښکېلتیا د نورو ګټو ترڅنګ، د پرمختیایي پروژو او پروګرامونو په بریا کې هم رغنده رول لوبوي. د اطلاعاتو پرانیستنه په حکومت کې فساد کموي او د خلکو پراخ ګډون، بیا غوره پرېکړو ته لاره هواروي، چې پلي کول یې اسان وي.

اطلاعاتو ته د لاس رسۍ په نوښتونو کې د ښځو فعاله ونډه خورا اړینه ده. افغان ښځې د اطلاعاتو غوښتلو او ترلاسه کولو په برخه فعاله ونډه نه لري، پداسې حال کې چې ښایي هغوی دې وسیلي (اطلاعاتو ته د لاسرسي حق) ته له نورو څخه زیاته اړتیا ولري. اطلاعاتو ته د لاس رسۍ حق ښځو ته دا وړتیا ورببښي چې د خپلو حقونو په هکله پوه شي او خپلو حقونو څخه د ګټه اخیستنې له لارې و کولای شي چې اغیزمنې پریکړې وکړي او د اړینو سرچینو په برابرولو، او په عام ژوند کې د اغیزمن ګډون لپاره د نورو ښځو سره  مرسته وکړي.

ددې لپاره چې د اطلاعاتو د حق له عملي کېدو ډاډمن شو، دې ته اړتیا ده چې دا حق د یو ځانګړي قانون په وسیله تضمین شي. که څه هم د اساسي قانون تضمین ګټور دی، خو اساسي قانون ددې حق پوره جزئیات نشي رانغاړلای. ددې موضوع اهمیت ته په کتو سره، د افغانستان دولت، د مدني ټولنو او رسنیو په همکارۍ، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون تصویب کړی چې د ۱۳۹۳ کال د سلواغې په ۲مه نېټه د عدلیې وزارت په رسمي جریده کې له خپرېدو وروسته نافذ شو. که څه هم دا قانون جامع او بشپړ نه دی او د ګڼو ښکېلو غاړو لهخوا یې یو شمېر نیمګړتیاوې په ګوته شوي، خو بیا هم په هېواد کې، اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره ښه بنسټ دی. ددې قانون د ځواکمنتیاوو څخه یوه یې شپاړسمه ماده ده چې د څارنې یوه خپلواکه اداره (اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون) جوړېدل دي چې ددې قانون د پلي کیدو څارنه او ملاتړ وکړي.

## د وضعیت ارزونه

**د کمیسیون رامنځته کیدل** یوه لویه لاسته راوړنه ده او لکه څنګه چې ولیدل شول، کمېسیون ټاکنې ترسره کړې او خپل رئیس، مرستیال او منشي یې وټاکل. کمېسیون د قانوني اړتیاو په پرتله ډېرې ناستې ترسره کوي، د قانون له خوا ورته په ۱۵ ورځو کې یوه ناسته ښوول شوې (د شلمې مادې لومړۍ فقره وګورئ). له همدې امله د پلان جوړونې او خپلو کارونو د پلي کولو له پلوه کمېسیون د پیاوړې پرمختګ په حال کې دی.

په ورته وخت کې، کمېسیون د خپلو داخلي ننګونو سره مخ دی او لا له دولته هغه ملاتړ ته منتظر دی چې د دارالانشاء جوړولو ته اړین دی. د قانون د ۲۴مې مادې پر بنسټ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت باید د دې سره کمېسیون سره باید په اداري او اجرئیوي برخه کې مرسته او همکاري وکړي، له دې امله چې دا قانون د بودیجې د تخصیص څخه وروسته تصویب شوی، د اطلاعاتو او کلتور وزارت ددې کمېسیون د ملاتړ لپاره کافي منابع نه لري او له همدې وجې کمیسیون د بشري او نورو منابعو له پلوه چې د چارو د پرمخ بېولو لپاره اړینې دي، د جدي کمښت سره مخ دی.

ددې ستونزې سربېره، ددې لپاره چې کمېسیون د ځانګړو مهارتونو او تجربو لرونکي کسان وګماري، او له دولته هم خپلواک واوسي، کمېسیون به د اطلاعاتو او کلتور وزارت له ملاتړ وراخوا، ځینو نورو اضافي منابعو ته هم اړتیا ولري. له دې وړاندې، لکه د هرې نوې تشکیل شوې ادارې په څېر، د کمېسیون د غړو او د دارالانشاء د کارمندانو د روزنې او داخلي وړتیا لوړونې لپاره هم اړتیا شته. د ۲۰۱٦ کال د جنوري په میاشت کې د یو درې ورځني نړیوال روزنیز پروګرام په شمول، څو روزنیز پروګرامونه لا وار دمخه ترسره شوي، خو نورو ډېرو ته اړتیا شته. کمېسیون ته هم په کار ده چې خپل داخلي جوړښت او د پالیس یو چوکاټ جوړ کړي ترڅو ترې یو ګټور او اغېزمن اداري بنسټ جوړ شي.

لکه څرنګه چې بره وویل شول، په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره، د **حقوقي چوکاټ** په برخه کې په قانون کې ځینې نیمګړتیاوې شته. کمېسیون د قانون د پلي کولو لپاره د ځینې عمومي مقرراتو په جوړولو، چې د چارو ادارې یې غوښتنه کړې وه، کار کوي. په دې مقرراتو کې د قانون د ځینو برخو د ابهام لرې کول او د ځینو برخو څېړل دي چې په قانون کې سرسري ذکر شوي دي. په اوږد مهال کې به، په قانون کې د ځینو موضوعاتو د حل لپاره چې په مقرراتو نه حلیږي، یو لړ تعدیلاتو ته اړتیا وي. د کمېسیون د داخلي قواعدو او تلنلارو د تطبیق لپاره باید قانوني چوکاټ هم بشپړ شي، همدارنګه د اطلاعاتو رسولومراجعو لپاره، چې د قانون لهمخې د دولتي ادارو د تعهداتو د پوره کولو مسؤول دي، د روښانه او لازمي لارښودونو جوړول هم پکې شامل وي.

د افغانستان په ډېرى ادارو کې د اطلاعاتو محرم ساتل یو دود ګرځېدلی، د محرمیت او پټوالي دې پراخه کلتور داسې حالت راوستی چې ډېرى خلک په آسانه اړین اطلاعات نشي ترلاسه کولای، دا حالت د اطلاعاتو د افشاء د کمزورې سیستم له وجې لا پسې خراب شوی. له دې وراخوا، حتی هغه ادارې چې د پرانستو اطلاعاتو ملاتړ کوي، د هغوی ډېر کم چارواکي (د اطلاعاتو رسولو د مراجعو په شمول) په هغو مکلفیتونو پوهیږي، چې قانون ورته د خپلو چارو پرمخ بېولو لپاره ټاکلي. د قانون د پلې کېدا په لاره کې د بنسټونو د مخالفت د ستونزې د حل لپاره، کمېسیون ته پکار ده چې د اړتیا پرمهال د تأدیب په شمول، **د ځارنې پیاوړې سیستمونه** او میکانیزمونه جوړ کړي. کمېسیون د ځارنې د داسې سیستم جوړولو هوډ لري چې د قانون په رڼا کې د هر نهاد فعالیت په روانه توګه وارزوي، همدا راز کمېسیون به د قانون په پلې کېدا کې **د چارواکو د ظرفیت لوړونې** په برخه کې هم مهم رول ولوبوي.

د قضیې بل اړخ دا دی چې اطلاعاتو د ته لاسرسي دقانون او حقوقو په اړه د عامه پوهاوي کچه ډېره ټیټه ده. یوازې د عامو خلکو نه، بلکې د یو څو محدودو مدني ټولنو پرته چې د قانون په جوړښت او تصویب کې ښکېل وو، د ژورنالستانو، رسنیو او ډېرى مدني ټولنو د پوهاوي کچه هم ډېره ټیټه ده.  ددې اړتیا د حل لپاره، کمېسیون د خلکو، مدني ټولنو استازو او رسنیو ته د اطلاعاتو د لاسرسي په اړه د عامه پوهاوي مسؤولیت په غاړه لري. د ښځو لپاره د پوهاوي لوړولو نوښتونو ته خاصه اړتیا لیدل کیږي، ځکه چې په دې کار سره د ښځو تش په نوم حق، د هغوی د پیاوړتیا لپاره په یوه وسیله بدلیږي.

کمېسیون په دوه نورو برخو کې هم، اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون په بریالۍ پلي‌کېدا کې کار لري. لومړی، کمېسیون د خپل حقوقي مسؤولیت له مخې به، اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره یو انټرنټي پاڼه جوړه کړي چې **شکایاتو ته رسیدنې** لپاره به تلنلارې او جوړښتونه ولري. سربېره پردې، ددې کار لپاره به کمېسیون یو لړ داخلي تلنلارې او اداري جوړښتونه هم جوړ کړي. دوېمه دا چې، کمېسیون د اړونده ښکېلو غاړو په همکارۍ، د یو محدود خو متمرکز **ځېرنیز او خپرندویه** پروګرام وړاندیز کوي[۱]، چې د پلي‌کېدا او د غوره تجربو څخه د زده‌کړو پرمټ د بشپړتیا ملاتړ وکړي. د بېلګې په توګه د چارواکو او بهرنیو ښکېلو غاړو لپاره د روزنیزو لاربښودنو تیارول، د اطلاعاتو رسولو مسئولو مراجعو لپاره لاربښودونه او داسې نور اسناد ولري چې خلک او مسؤولین به ورته پرلیکه لاسرسي ولري. هغو ټولنو ته چې انټرنټ ته لاسرسي نه لري، کمېسیون به ورته د اطلاعاتو د لاسرسي نور ډول منابع لکه د راډیو له لارې د عامه خدماتو اعلانونه یا لیکلې خپرونې، وړاندې کړي.

که پورتنۍ یادې شوې ننګونې او موضوعات حل شي، اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون اغېزمن پلي‌کېدا به په واقعیت بدل شي. کمېسیون پوهیږي چې ځینې نور عناصر، لکه د دولت له‌خوا د سیاسي ارادې شتون هم ډېر اړین دی. خو موږ ډاډه یو چې د پورتنیو یادو شویو موادو برابرول، د پلي‌کېدا د اسانتیا لپاره بیخي ډېر مهم دي. او دا بیا په خپل وار سره په حکومت کې د عامه مشارکت د ډېرښت، د مسؤولیت د پیاوړتیا او د فساد او نور ورانکاریو د کمښت لپاره لاره هواروي.

## ټولیز لرلید

اطلاعاتو ته د لاسرسي په شمول، افغان دولت د افغان اتباعو د ټولو حقونو د خوندي کولو لپاره پالیسیانې او تلنلارې جوړې کړي. دولتي چارواکي او د ملکي خدماتو کارمندان دا حقوق په لفظي او باطني مانا دودوي. افغان اتباع ښه پوهیږي، له خپلو حقوقو خبر دي او د خپلو حقوقو د کارولو لپاره اړینه پوهه او مهارتونه لري. د مدني ټولنو او رسنیو فعالان په ګډه، دولت د خپلو چارو او پالیسیو په تړاو مسؤول ګڼي او په مهمو موضوعاتو کې عام خلک خبروي. په دولتي جوړښتونو او په ټوله کې افغاني ټولنه د روڼتیا کلتور بنسټیز شوی، چې دا به په ټول افغانستان کې د سولې، ټیکاو او انساني پرمختګ سره مرسته کوي.

## اطلاعاتو ته د لاسرسي د فعالانو لپاره لاربښودي ماموریت

پالیسي جوړوونکي، اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره په نړیوالو غوره تجربو ولاړ، یو روښانه او بشپړ حقوقي چوکاټ جوړوي. دولتي بنسټونه د پیاوړو اداري تلنلارو جوړولو او د کارمندانو د وړتیا جوړنې لپاره اړین منابع په کار اچوي، ترڅو عامو افغانانو ته پر وخت او په عصري ډول اطلاعات ورکړي. مدني ټولنې او رسنۍ د وکالت او عامه پوهاوي چارو پرمخ بېولو په موخه، د اطلاعاتو ترلاسه کولو لپاره د اطلاعاتو د لاسرسي تلنلارې په فعاله توګه کاروي او بسپنه‌ورکوونکي پوهیږي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي ملاتړ په افغانستان کې د نورو حقوقو د تحقق لپاره ډېر اړین دي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون، مسؤولینو او عامو خلکو ته د یو متجربې، نظریاتي، څېړنیزې او ملاتړې سرچینې په حیث کار کوي.

۱ د بېلګې په توګه، کمېسیون به د متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوټ، یونیسکو، د قانون او ولسواکۍ مرکز، او نړیوال شفافیت نهادونو سره ګډ کار وکړي او د هغوی له خوا تولید شوې څېړنې به وکاروي.

# افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره د کارنده چاپېریال جوړول

د خلکو ګډون او د حکومت مسؤولیت، د هېواد د پرمختګ او ولسواکه راتلونکي لپاره لومړیتوبونه دي. لکه څرنګه چې په پېژندنه کې هم وویل شول، تر ټولو مهم عنصر چې خلک، خپل دولت د پالیسیو او کارونو په تړاو مسؤول ګڼلای شي، د هغو اطلاعاتو د غوښتلو او ترلاسه کولو وړتیا ده، چې پرېکړې څنګه کیږي او سرچینې څنګه اختصاص کیږي. اطلاعاتو ته لاسرسي د خلکو سره پدې کې مرسته کوي چې له دولتي چارواکو سره د اغېزمن مشارکت له لارې خپل حقوق وغواړي او مسؤولین د خپلو ژمنو پوره کولو ته اړباسي. د خلکو او مسؤولینو ترمنځ د ډېرو اطلاعاتو په راکړه‌ورکړه، او اتباعو ته د مهمو موضوعاتو په اړه، په پرېکړو نیولو کې د ګډون ډېرولو سره، د دولت او اتباعو ترمنځ د واک ناانډولي کمېږي.

څوک دا نشي ویلای چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې، د یوې حقوقي او رسمي ادارې په جوړولو او اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون څخه ګټې اخیستنې په موخه د پوهاوي پروګرامونو په دایرولو کولو سره به افغان دولتي چارواکي په **فعاله توګه اطلاعات وړاندې کړي** او یا دې هم د وګړو غوښتنې لورې شي، خو د حقوقي جوړښت درلودل له یوې خوا او اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه پوهاوی له بلې خوا، اطلاعاتو ته د خلکو د تقاضا په ډېریدو کې رغنده رول لوبوي او دا کار قطعاً کافي ندی، د اطلاعاتو وړاندې کوونکو (عامه ادارو او دولتي پرېکړه نیوونکو) په برخه کې باید دوه ټکي په پام کې ونیول شي: ۱) د اطلاعاتو د غوښتنې په مقابل کې د هغوی د ځواب ویلو وړتیا (باکفایته کارمندان، د اسنادو مدیریت) او ۲) د اطلاعاتو د ورکړې په اړه د هغوی خوښه او رضایت چې د خلکو او مدني ټولنو د غوښتنو په ځواب کې یې ښیي. سترې ننګونې به د دولت هڅول وي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون د غوره پلي کولو لپاره کافي منابع برابرې کړي، او دوهم، د داسې لارو چارو موندل چې په ادارو کې د اطلاعاتو دخیالي ملکیت او د اطلاعاتو د پټ ساتلو کلتور له منځه یوسي.

د خلکو په برخه کې چې د اطلاعاتو غوښتلو حق لري (افغان اتباع، مدني ټولنې، رسنۍ)، هم باید دوه ټکو ته پام وشي: ۱) د دولتي چارواکو څخه د اطلاعاتو د غوښتلو د حق څخه بې‌خبري او نه پوهېدل چې څنګه یې ترې وغواړي؛ ۲) د خلکو ترمنځ د واک څخه د محرومیت ژور احساس، خو په حقیقت کې دوی خپل پرېکړه نیوونکي د اړونده اطلاعاتو په ورکولو مجبورولای شي. سترې ننګونې به د اطلاعاتو د حق، د پراخې محتوا راغونډولو تضمین وي، او د ښځو، معلولینو، کډوالو، داخلي بېځایه شوو کسانو او داسې نورو په ګډون د ټولو خلکو هڅول چې هغوی کولای شي د اطلاعاتو د لاسرسي څخه ریښتینې ګټې ترلاسه کړي.

د اطلاعاتو ته د لاسرسي د ښکېلو غاړو (دولتي چارواکو، د مدني ټولنو فعالانو، رسنیو او خلکو) تر منځ اړیکې باید داسې جوړې شي چې د اطلاعاتو ورکوونکو او اطلاعاتو غوښتونکو ترمنځ بهیر اسان او اغېزمن واوسي. مدني فعالان او رسنۍ، اطلاعاتو ته د لاسرسي په پراختیا او اجرا کولو کې مخکښ رول لري او د حق‌لرونکو او مسؤولو خلکو ترمنځ د اطلاعاتو بهیر اسانه کوي. په سیمه‌ییزه کچه د اطلاعاتو غوښتلو د کلتور دودولو او د مسؤولینو له‌خوا د اطلاعاتو ورکولو د کلتور دودولو ترمنځ باید انډول وساتل شي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون ددې اړیکو جوړولو مهم لوبغاړی دی؛ د دولت له‌خوا د قانون رعایت تضمینوي او له خلکو سره مرسته کوي چې د اطلاعاتو غوښتلو حق یې وکاروي.

## اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون دندې

دا یو نړیوال منل شوی حقیقت دی چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون د بریا یو مهم عنصر د یوې خپلواکې څارګرې ادارې جوړول دي، یو اطلاعاتي کمیسیون چې دنده یې په ټوله کې د قانون له پلي کولو څارنه او د هغو شکایتونو ارزول وي چې د اطلاعاتو غوښتنې څه ډول پرمخ وړل کېږي، مبالغه به نه وي که ووایو چې د څارنې اغېزمن کمیسیون جوړول، اطلاعاتو ته د لاسرسي په سیستم کې د ډېرې او لږې بریا برخلیک ټاکلی شي.

په افغانستان کې، اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون موخو ته د رسېدو لپاره، د قانون شپاړسمه ماده اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون جوړول غواړي. د کمېسیون ۱۳-کسیزه جوړښت چې د قانون د شپاړسمې مادې په لمړۍ فقره کې یاد شوی، د رسمي او خپلواکو غړو شمېر هم شامل دی.

کمېسیون د ۱۳۹۴ کال په چنګاښ میاشت کې جوړ شو او بې لهځنډه یې عملاً په کار پیل وکړ. که څه هم چې د خپلواکۍ له اړخه، کمیسیون د نړیوال معیارونو سره سم نه دی او قانون په دغه برخه کې تر نیوکې لاندې دی، خو بیا هم کمېسیون له ۱۳ دولتی او نا دولتی غړو څخه د ټاکنو له لارې خپل رئیس، معاون او منشي ټاکي او د کمیسیون ډیری دولتي غړي چې په کمیسیون کې د دولتي ادارو استازیتوب کوي، د قانون پلي کولو ته پوره ژمن دي.

د قانون د نولسمې مادې په اساس، کمېسیون لاندې واکونه او دندې لري:

- اطلاعاتو ته د لاسرسي د پروسې ټولیزه څارنه
- د غوښتونکو د شکایتونو ارزول
- له نهادونو څخه د اسنادو او شواهدو ترلاسه کول
- متقاضیانو او ادارو ته مشورې ورکول
- د اړونده نهادونو د راپورونو ارزول
- اطلاعاتو ته د لاسرسي د کلتور دودول او د پوهنیزو پروګرامونو دایرول
- په ښکاره توګه د کمېسیون د پرېکړو خپرول
- د قانون د پلې کېدا څارنه
- د اړونده مقرراتو او تلنلارو تصویب
- د نورو دندو ترسره کول چې په قانون کې ذکر شوي وي

دا په دې مانا چې کمېسیون په لویه کچه د اطلاعاتو لپاره د متقاضیانو د شکایاتو د ارزونې او قانون ته اړوند د دودي فعالیتونو دندې لري.

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون د دولتي نهادونو او اړونده ادارو سره د اطلاعاتو د لاسرسي د قانون د پلي کولو لپاره د سالمو پالیسیو او پروسیجرونو په جوړولو کې، د همغږي کار په وسیله د ملي ستراتیژۍ لاستهراوړنې پیاوړې کوي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانونو د پلي کولو او د رغنده څارنې په موخه د مدني ټولنو او رسنیزو فعالانو ورتیا لوړه کړي؛ چې د اطلاعاتو لپاره سمې غوښتنې ثبت کړي؛ او د سرغړاوۍ په قضیو کې شکایت وکړي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به د دولتي او غیر دولتي نهادونو سره ګټورې اړیکې جوړې کړي چې په پراخه کچه د عامو خلکو ترمنځ، اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه پوهاوی ډېر کړي. کمیسیون به د مدني ټولنو د فعالانو ورتیا لوړه کړي چې په خپلو سیمو کې خلک دې ته چمتو کړي، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي له حقه ګټه پورته کړي. له نړیوالو تجربو څخه په زدهکړه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به اړین جوړښتونه او تلنلارې جوړې کړي ترڅو ترې داسې یو خپلواک او معتبر نهاد جوړ شي چې په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي اجنډا ته د پرمختګ په موخه د مسؤولینو او حقلرونکو سره له نږدې کار وکړي.

## د پیاوړو ټکو، کمزوریو، فرصتونو او ننګونو شننه

### د قوت ټکي

- د ولسمشر د دفتر ملاتړ
- د فساد ضد او روڼتیا په برخه کې متجرب کسان
- د پلي کېدا د پلان سره پیاوړي لرلید او ماموریت
- اطلاعاتو ته د لاسرسی حقوقي چوکاټ

### کمزوري

- د منابعو نه شتون له وجې د پوهاوي محدوده کچه
- د ستراتیژیکو چارو پرمخ بېولو لپارهُ د منابعو د نه شتون له وجې، ټیټه وړتیا
- د خپلواکۍ د تضمین لپاره د داخلي مقرراتو نه شتون
- د وړ کسانو ګمارلو او ساتلو کې ستونزې

### فرصتونه

- د مدني ټولنو او رسنیو به خبر، اطلاعاتو ته د لاسرسی د نورو فعالانو د ګډو هڅو ځواک
- اطلاعاتو ته د لاسرسی ویبپاڼې له لارې ددې بهیر او کړنو پراخول
- د فساد ضد او روڼتیا د ترویج فعالانو ملاتړ

### ننګونې

- بنایي دولت، اطلاعاتو ته د لاسرسی د څار کمېسیون وړاندې خپلې قانوني ژمنې پوره نکړي
- بنایي د تمویلوونکو لومړیتوبونه بدل شي
- اطلاعاتو ته د لاسرسی د څار کمېسیون ته نیمګړي تمویل به نوموړی کمېسیون غیر مؤثر کړي
- اطلاعاتو ته د لاسرسی د قانون او کړنو د پلي کېدا لپاره د مسؤولینو د سیاسي ارادې نه شتون

## اطلاعاتو ته د لاسرسي ملي سټراټیژۍ پلان او پلي کول

لاندې برخه کې د کارول شوې طریقې، او اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون غړو، او اطلاعاتو ته د لاسرسي د نورو فعالانو سره د سټراټیژیک پلان د پروسو پایلې ذکر شوي، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قوانینو پلي کولو او اطلاعاتو ته د عامه غوښتنو ډېرولو لپاره اساسي فعالان په ګوته شي. همدارنګه دلته هغه بدلونونه هم ذکر شوي چې کمېسیون او اطلاعاتو ته د لاسرسي فعالان یې د راوستلو هوډ لري او په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي د بهیر د پیاوړتیا لپاره د پرمختګ او لاسته راوړنو د تعقیب څرنګوالی په برخه کې یې غواړي.

## د پایلو انځورول او تطبیقي مدیریت

د افغانستان په څېر په جګړه‌ځپلو سیمو کې خلکو ته، د ریښتینو، مستندو، او پر وخت پایلو لاسته راوړل د قدرت څخه د محرومیت احساس پر وړاندې حیاتي رول لري چې خلک په دې وسیله، په ټولنه کې د مثبت تغیر راوستلو جوګه کیږي. خو دا هڅې د ځینو وجوهاتو له امله ډېرې پېچلې شوي، لکه د امنیت موضوع، د غیر دولتي لوبغاړو تخریبي ورانکاري، اقتصادي وضعیت، دولتي کړنې او سیمه‌ییز او نړیوال تحرکات، چې دا ټول ددې توان لري چې سالم پلان شوي پروګرامونه او د پلي کېدو سمې طرحې ګډې‌وډې کړي.

په داسې متحرکو حالاتو کې چې د بهرنیو عواملو تغیر د ټولنیز بدلون په هڅو ستر اغېز غورځولای شي، هلته اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون په څېر بنسټونه، حکومتي پرېکړه‌نیوونکي، مدني ټولنې او رسنۍ داسې لارو چارو ته اړتیا لري چې، سیمه‌ییزو عواملو پر وړاندې حساس، او تغیرمنونکې وي، چې د حالاتو د بدلون سره ځان عیار کړي. اطلاعاتو ته د لاسرسي سټراټیژۍ او فعالیتونو کې، د ورځنیو زده‌کړو شاملول به لکه، څه شی کار کوي، څه شی کار نه کوي او د کمېسیون یا نورو فعالانو د هڅو لپاره ولې ورته اړتیا ده، دا، اړین بلل کیږي.

د پایلو په نښه کولو (د لرلید انځورول) هغه لاره ده چې تطبیقي مدیریت اسانه کوي. د پایلو انځورول په فعالانو متمرکز دی – دا لاره د مهمو نهادونو د هغه ښکاره سلوک په تغیر تمرکز کوي چې ټولنیز بدلون ورته اړتیا لري. دا طریقه په **دوامداره زده‌کړه** او **انعطاف** ټینګار کوي؛ او داسې انګېرې چې ټولنیز بدلون یو ډول سیده لاره نه ده او ډېرې وخت یې وړاندوینه نشي کېدای؛ د پایلو انځورل د هغو شواهدو په راغونډولو تمرکز کوي چې د پایلو په پېژندلو کې راسره مرسته کوي او ډېر فعالان د بدلون پدې بهیر کې ونډه لري.

کمېسیون او اطلاعاتو ته د لاسرسي د بهیر نور فعالان چې کله اطلاعاتو ته د لاسرسي د ملي سټراټیژۍ په پلي کولو پیل کوي، نو د پلانګذارۍ، څارنې او زده‌کړې داسې یو سیستم ته اړتیا ده، چې لاندې ځانګړتیاوې ولري: ۱) د دولت د پېچلو مداخلو لپاره طرح شوی وي؛ ۲) دا سیستم به د سیمې بدلیدونکی حالات او فعالان په نظر کې نیسي؛ ۳) خپلې اساسي موخې ته په رسېدو کې مرسته کوي. دا لومړنۍ موخه داخلي زده‌کړه ده، چې د پراخې روڼتیا په هڅو کې او اطلاعاتو ته د لاسرسي د حق کارولو په برخه کې په دې پوهېدل دي چې، څه کار کوي او څه کار نه کوي. د ۲۰۱۷ په جنوري کې، د کمېسیون غړو او اطلاعاتو ته د لاسرسي نورو فعالانو په یو ملي مشاورتي ورکشاپ او د پایلو انځورل د پلانګذارۍ په بهیر کې ګډون وکړ، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د ملي سټراټیژۍ د پلي کېدا لپاره د سټراټیژیک چوکاټ جوړول طرح کړي.

په دې بهیر کې لاندې ټکي شامل وو:

- د مهمو فعالانو او د «بدلون لار» پېژندل، چې دا فعالان یې باید د اطلاعاتو د حق کارولو او اطلاعاتو ته د لاسرسي د قوانینو د پلي کېدو لپاره تعقیب کړي
- ددې مهمو همکارانو په سلوک کې د اړین او څرګند تغیر په موخه د سټراټیژیو او فعالیتونو تمرکز

د سټراټیژیکې پلانګذارۍ له اړخه، د دولتي پرېکړه‌نیوونکو او چارواکو، مدني فعالانو او رسنیو په شمول د مهمو لوبغاړو په سلوک کې د اسانه بدلون لپاره، اطلاعاتو ته د لاسرسي په تړاو د پایلو انځورولو طریقه کارول شوې.

په سټراټیژیک چوکاټ کې، د کمېسیون او اطلاعاتو ته د لاسرسي د فعالانو د سلوک مطلوب بدلون لیکل شوی، همدارنګه د پرمختګ د کچې مالومولو لپاره پکې نښې کارول شوي چې د پایلو او لاسته‌راوړنو د ارزولو لپاره د څرنګوالي او څومره‌والي اطلاعات راغونډوي.

## اطلاعاتو ته د لاسرسي ښکېلې خواوې

اطلاعاتو ته د لاسرسي د ماهرینو له نظریاتو او د پایلو انځورولو له بهیره، ګډونوالو د فعالانو یو لړ مشخصې ډلې په ګوته کړې چې د ملي سټراټیژۍ لرلید او موخو ته د رسېدو لپاره نهایت اړینې دي. دې بهیر اطلاعاتو ته د لاسرسي **۳** ډله ښکېلې غاړې مشخصې کړې چې د اصلي همکارانو په ډله کې راځي. په راتلونکې کې به، کمېسیون او اطلاعاتو ته د لاسرسي د فعالانو سټراټیژۍ او فعالیتونه، د لاندې ښکېلو خواو، په مثبت بدلون تمرکز وکړي:

- په عامه ادارو کې حکومتي پرېکړه نیوونکي
- د مدني ټولنې فعالان
- د رسنیو فعالان
- اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون

## مهمې پایلې او د بدلون لارې

د هر اصلي همکار سره د ټولیز ماموریت (د پایلو څرګندونې) ته د رسېدو په خاطر، د ګډونوالو د ژورې متوافقې پوهې پر اساس چې د خپل کاري چاپېریاله یې ترلاسه کړې، په ټولیز ډول، د هغو مطلوبو بدلونونو په اړه هوکړه وکړه، چې دوی یې رسېدو ته هوډ کړی. دې حقیقت ته په کتو سره چې بدلون یو اوږدمهالی او طبیعتاً مجموعي بهیر دی، اطلاعاتو ته د لاسرسي هرې ډلې ته «د بدلون لار» کاږل شوې، چې پکې هغه څه لیکل شوي چې هره ډله یې د خپل ماموریت د رسېدو لپاره ترسره کړي. دا لاره د **سلوک اړین بدلون** راښایي چې د تحول د پایلو څخه مخکې باید ترسره شي. د سلوک دغه ټاکل شوي بدلونونه په پرلپسې توګه عیار شوي، چې پکې متوقعه پایلې (ترلاسه کول یې نسبتاً اسانه دي)، منځمهالې پایلې (هغه څه دي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي اتلان یې د اصلي همکارانو څخه تمه لري، چې ترسره یې کړي) او اوږدمهالې پایلې (هغه تحولاتي بدلون چې که اصلي همکارانو ترسره کړ، اطلاعاتو ته د لاسرسي اتلان به د زړه له تله ورڅخه خوشاله شي). اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون او نور ګډونوالو په دې اړه ښه سوچ کړی چې ترلاسه کېدونکې پایلې به کومې وي، او د ټولو همکارانو د پرمختګ د کچې لپاره یې شاخصونه جوړ کړي، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د سټراټیژیو په اغېز او د هغوی لاسته‌راوړنې پرې وارزول شي.[۲]

---

۲ د بدلون بشپړې لارې، دپرمختګ د شاخصونو سره په تطبیقي پلان کې ذکر شوي دي

# مهمې پايلې

په ملي سټراټيژۍ کې په ګوته شويو پايلو، د ښکېلو غاړو په فعاليتونو او اړيکو کې، د سلوک په محسوس بدلون تمرکز کړی، چې ماموريت ته د رسېدو، او د سټراټيژۍ د بريا لپاره بايد ترسره شي، (چې نهايتاً به ټوليز لرليد ته په نږدې کېدو کې مرسته وکړي). دا پايلې اطلاعاتو ته د لاسرسي د اصلي فعالانو مطابق وړاندې شوې دي.

دولتي پرېکړه نيوونکي

اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون پلي کولو لپاره کافي منابع ځانګړې کوي، لکه د وړ کارمندانو ګمارنه، په خپلو رياستونو کې د اطلاعاتو د مديريت اصلاح، او د خپلو کارمندانو او عامو خلکو ترمنځ، اطلاعاتو ته د لاسرسي د پوهاوي دودول. هغوی د اطلاعاتو ښکاره کولو او غوښتل شويو اطلاعاتو ته پر وخت ځوابولو لپاره پاليسۍ او تلنلارې جوړې کړي. دولتي پرېکړه نيوونکي، دداسې پاليسۍ په جوړولو کې چې افغان اتباعو ته د اطلاعاتو د حق ورکول هڅوي، يو فعال رول لوبوي.

د مدني ټولنو فعالان

د دولتي چارواکو او عامه خدماتو تسهيلوونکو څخه، د هغوی د ټولنيز مسؤوليت پر بنسټ، د اطلاعاتو لاسرسۍ څخه اغېزمن ملاتړ کوي. هغوی ددې کار لپاره ټول اړين مهارتونه، پوهه او وړتيا لري چې هم اطلاعاتو ته لاسرسي د خپل کار د پرمختګ لپاره وکاروي، او هم د ښځو، معلولينو، کډوالو، داخلي بې ځايه شوو کسانو په ګډون، خلک وهڅوي چې د خپلو ګټو لپاره د اطلاعاتو له حق څخه ګټه پورته کړي. د مدني ټولنو فعالان په منظم ډول د خپلو ټولنو سره مشوره کوي چې ډاډه شي چې د هغوی کارونه د اتباعو اړتياوې او لومړيتوبونه ځوابوي. مدني ټولنې په خپلو کې او د رسنيو سره ګډکار کوي چې پوهه، سټراټيژي او ملاتړې هڅې يو له بل سره شريکې کړي، ترڅو اطلاعاتو ته لاسرسي تعميم کړي او افغان دولت د خپلو اتباعو پر وړاندې مسؤول ځرګند شي.

د رسنيو فعالان

اطلاعاتو ته د لاسرسي په سمو تلنلارو ځي او د سرغړاوۍ شکايتونه درجوي. دوی د مدني ټولنو او اطلاعاتو ته د لاسرسۍ د ځارنې کمېسيون سره ګډ کار کوي چې د عامه پوهاوي په مرسته، اطلاعاتو ته د لاسرسي اجنډا پلي کړي.

د رسنيو فعالان د عامه مسايلو په اړه، خپل راپورونه د ورځنيو پېښو او ژورو موضوعاتو ترمنځ په انډول نيولو سره تياروي، ترڅو افغان اتباع په بې‌پرې ډول خبر وساتي. اطلاعاتو ته د لاسرسي د قوانينو په کارولو سره، د رسنيو فعالان، حکومت د خپلو کړنو او پاليسيو په تړاو، په عادلانه او بې‌پرې ډول، مسؤول نيسي. د رسنيو ښځينه فعالان، نورو ښځو او زيان منونکو ډلو ته اطلاعاتو ته د لاس رسۍ او هغې څخه د ګټې اخيستنې د ارزښت په هکله د پيغامونو خپرولو په برخه کې مهم رول لوبوي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي د ځارنې کمېسيون

له افغان دولته کافي منابع ترلاسه کوي چې روان ټيکاو او اغېزمن فعاليتونه پرې جاري وساتي. کمېسيون خپلې قوي تلنلارې، پاليسۍ او جوړښتونه تشکيل کړي چې د کمېسيون کار پرې پرمخ يوسي، لکه د کارمندانو ګمارنه، روزنيز پروګرامونه، او د وړ کارمندانو او غړو ساتنه. کمېسيون، د شکايتونو د درج او د مسؤولينو د سرغړاوي د تعقيب لپاره، په اسانۍ ترلاسه کېدونکې تلنلارې برابروي. کمېسيون، هم د مسؤولينو لپاره او هم د حق-لرونکو لپاره، د ماهرينو، نظرياتو، څېړنې او ملاتړ يوه سرچينه ده.

## د بدلون لارې[۳]

د افغانستان په خبر په غیرثابت او جګړه‌ځپلي چاپېریال کې، د پېچلو سیاسي عواملو په شتون کې، اطلاعاتو ته د لاسرسي د ښکېلو غاړو ترمنځ د بدلون راوستل به، یو مخ په ډېرېدو، مجموعي او غیر متوقعه بهیر وي. خو بیا هم شونې ده چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د ښکېلو غاړو ترمنځ د بدلون ممکنه لارې په نښه کړو، لکه د تمې، غوښتل شوي او نهایتاً تحولي بدلون، چې ملي ستراتېژۍ په همدې ملاتړ جوړه شوې ده.

## حکومتي پرېکړه نیوونکي او عامه نهادونه

- کافي بشري، مالي او فزیکي سرچینې د قانون او مقرراتو د پلي کولو لپاره ځانګړې کول
- په خپلو ریاستونو او نهادونو کې، او اطلاعاتو ته د لاسرسي د نورو فعالانو سره په ګډ کار، د عامه پوهاوي په چارو کې ښکېلول
- د اطلاعاتو د ژر ښکاره کولو او غوښتنو ته د چټک ځواب په موخه، د پیاوړو پالیسیو جوړول
- د نړیوالو معیارونو سره سم، په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره د حقوقي چوکاټ پیاوړي کول

## د مدني ټولنو غړي

- اطلاعاتو ته د لاسرسي په روزنو او پوهاوي چارو کې فعاله ګډون کول
- د عامو خلکو او دولتي چارواکو لپاره، اطلاعاتو ته د لاسرسي اړوند، خپل روزنيز او پوهاوي پروګرامونو دایرول
- د حق غوښتلو په کارونو کې، او د خپلو سیمو خلکو ته د اطلاعاتو د حق څخه د ګټنې لپاره، اطلاعاتو ته د لاسرسي تلنلارې کارول
- اطلاعاتو ته د لاسرسي چارې په خپلو ادارو کې بنسټیزه کول، او په افغانستان کې د روڼتیا او اطلاعاتو ته د لاسرسي د کلتور رایجولو په پار د کمېسیون او د رسنیو د غړو سره ګډ کار کول
- د افغان دولت د مسؤول ګڼلو د موخې د تعقیب لپاره، د سرغړاوي د شکایتونو د درج په شمول، اطلاعاتو ته د لاسرسي تلنلارې په اغېزمنه توګه کارول

## د رسنیو فعالان

- اطلاعاتو ته د لاسرسي د عامه پوهاوي توکي خپرول (د عامه اعلاناتو په شمول)، او اطلاعاتو ته د لاسرسي د تلنلارو د څرنګوالي په اړه په روزنيزو پروګرامونو کې ګډون
- ددې ډاډ چې خپل ملي کارمندان یې اطلاعاتو ته د لاسرسي روزنه او ملاتړ ترلاسه کړی
- د کمېسیون او اطلاعاتو ته د لاسرسي د نورو فعالانو سره ګډ کار او د عامه پالیسیو په موضوعاتو د تحقیقاتي راپورونو لپاره، اطلاعاتو ته د لاسرسي تلنلارې په اغېزمنه توګه کارول
- د افغان دولت د مسؤول ګڼلو د موخې د تعقیب لپاره، د سرغړاوي د شکایتونو د درج په شمول، اطلاعاتو ته د لاسرسي تلنلارې په اغېزمنه توګه کارول

---

۳ د پلانګذارۍ، څار او زده کړې لپاره، د بدلون تشریحي لارې په تطبیقي پلان کې ځای پرځای شوي

## اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون

- له افغان دولته د مالي او اداري ملاتړ ترلاسه کولو لپاره خبرې کوي، تر څو خپلې چارې او جوړښت سمبال او پیاوړی کړي
- د اړیکو/مکالمو یوه غښتلي ستراتیژي جوړوي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي لپاره لومړنۍ سرچینه واوسي او مسؤولینو او حق-لرونکو لپاره ملاتړې واوسي
- اطلاعاتو ته د لاسرسي نورو فعالانو سره د چارو او ورتیا لوړونې په برخه کې فعاله ونډه اخلي
- د شکایاتو د چټک تعقیب لپاره پیاوړې تلنلارې جوړوي
- اطلاعاتو ته د لاسرسي د قوانینو د پیاوړتیا لپاره اغېزمنه مبارزه کوي
- د اطلاعاتو د ورکولو په برخه کې، د مسؤولینو د عمومي چارچلند اغېزمنه څارنه
- په ولایاتو کې خپل قوي شتون رامنځ کول
- اطلاعاتو ته د لاسرسي په مسایلو کې، د تجربو او چارو یوه باوري او معتبره سرچینه ده

# اطلاعاتو ته د لاسرسي د ښکېلو غاړو د ښکېلتیا د ځواکمنولو ستراتیژي

د پورته یادې شوې ستونزې د تشخیص پر بنسټ، همدارنګه د ښکېلو غاړو د تحلیل پر اساس، د اساسي ملاتړ لپاره لاندنۍ درې ستراتیژیکې برخې په ګوته شوي، چې له یوې خوا به اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون په پیاوړتیا او پلي کولو کې مرسته وکړي او له بلې خوا حق-لرونکو ته د خپل حق څخه د ګټې اخیستنې، د ظرفیت جوړونې او اطلاعاتو غوښتلو کلتور دود کړي.

## حق غوښتنه

اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون، چې د اطلاعاتو د حق د **قانوني چوکاټ** برخه ده، د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر په ۲۴مه نېټه نافذ شو. د (www.RTI-Rating.org) د ارزونې په اساس، دا یو نسبتاً کمزوری قانون دی، چې له ۱۵۰ نومرو څخه یې ۷۷ نومرې اخیستي، د نړۍ په کچه د ۱۱۱ قوانینو ترمنځ یې ۷۷یم ځای یې خپل کړی. د بېلګې په توګه، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون، د اطلاعاتو د غوښتلو د پروسیجر او د مسؤولینو لهخوا اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې د استثنااتو له وجې ټیټې نومرې اخیستي. د اطلاعاتو د غوښتلو د پروسیجر په اړه، اوسنی قانون ټینګار کوي چې د ټولو غوښتنو لپاره دې یو ډول ځانګړې چاپي (په بیه) فورمه وکارول شي، پرته له دې چې د حق- لرونکو لپاره دې د اطلاعاتو غوښتلو لپاره کومه بله لاره (بربېښنالیک) په نظر کې ونیول شوي. د استثنااتو په برخه کې، قانون پدې اړه مبهم دی چې د ملي ګټو په تړاو استثنااات څه دي، چې همدې کار د ممکنه سرغړاوي لپاره لاره جوړه کړې ده. که څه هم دا قانون لا نوی دی او د پلي کېدو هڅې یې اوس اوس پیل شوي، خو ددې څلور کلن پلان په دوران کې باید اطلاعاتو ته د لاسرسی د قانون د اصلاحاتو لپاره د حق‌غوښتنې هڅې وشي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون، مدني فعالان او رسنۍ به د دې مبارزې په لومړۍ لیکه کې وي، تر څو دولتي چارواکي (لکه د ولسمشر دفتر او د عدلیې وزارت) دې ته چمتو کړي چې په قانون کې لازم تعدیلات راولي، چې په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي د حقوقي چوکاټ پیاوړتیا لپاره، اصلي او تکمیلي مقررات وضع شي، او کمیسیون به هم خپل داخلي مقررات پلي کوي. د ستراتېژیک پلان د حلقې په پیل کې، کله چې اطلاعاتو ته د لاسرسي فعالان د اوسني قانون سره ډېره تجربه ترلاسه کړي، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون به د قانون د تعدیل لپاره یوه طرحه

وړاندې کړي چې د قانون کمزوري نقطې پیاوړې کړي، په تېره بیا هغه نقطې چې د مقررو پرمټ نه حلیږي. دا طرحه به د کتنې لپاره، حکومت او ولسي جرګې ته لېږل کیږي، چې په افغانستان کې د اطلاعاتو د حق، قانوني بنسټ لا پیاوړی شي. کمېسیون به د هغه قوانینو د طرحو یا مسودو په اړه هم خپل پشنهادات ورکوي چې ښايي د اطلاعاتو حق اغېزمن کړي. کمېسیون به هڅه وکړي چې اړوند وزارتونو او ولسي جرګې سره جوړښتي ترتیباتو کې توافق ته ورسیږي، ترڅو ټول اړوند قوانین د نظریاتو لپاره دې کمېسیون ته په رسمي ډول ورسیږي.

## پوهاوی

نړیوالو تجربو ښوولې، چې یوازې هغو سیمو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قوانین په اغېزمنه توګه پلي کیدای شي چې له خلکو او حق- لرونکو له خوا د اطلاعاتو غوښتنې قوي دریځ موجود وي. د اطلاعاتو لپاره د عامه غوښتنې دریځ جوړولو لپاره اړتیا ده چې لومړی داسې **عامه پوهاوی** رامنځ ته شي خلک، اطلاعاتو ته د لاسرسي له حقه خبر شي، او پوه شي چې څنګه حق- لرونکي (خلک) کولای شي د ځان په ګټه د اطلاعاتو غوښتنه وکړي. که څه هم تر اوسه لا جامع تحقیق نه دی شوی، خو داسې لومړني شواهد شته چې ددې حق په اړه د عامه پوهاوي کچه ټیټه ده.[۴]

سربېره پر دې، د نورو هېوادونو تجربو ښوولې چې څو مشخصو فعالانو – په ځانګړي ډول مدني ټولنه او رسنۍ، اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون اصلي کاروونکي دي. که څه هم د عوامو په نسبت ددې فعالانو ترمنځ د پوهاوي کچه لوړه ده، خو دوی لا تر اوسه په دې سم نه پوهیږي چې څنګه اطلاعاتو ته د لاسرسي تلنلارې په اغېزناکه توګه وکاروي، خو که چېرې د قانون له مخې خپلې ګټې خوندي کوي، باید پرې پوه شي. د پوهاوي دغه نه شتون، د دولتي چارواکو په شمول، د مسؤولینو تر منځ د قانون څخه ناخبری، اطلاعاتو ته دلاسرسی بهیر تر منفي اغیز لاندې راوستی دی.

د عامه پوهاوي ډېرولو لپاره به یو لړ فعالیتونه ترسره شي، لکه د تبلیغاتي توکو تیارول او د عامه ناستو دایرول. ددې کار اندازې ته په پام سره، اړینه ده چې اطلاعاتو ته د لاسرسي ځینې فعالان، د کمیسیون، دولتي پرېکړه نیوونکو، او رسنیو په شمول، ټول دې موضوع ته یو څه پام وکړي.

په عامه کچه د پوهاوي نوښتونو سربیره، د رسینو ښځینه نماینده ګانو په مشرۍ، اطلاعاتو د لاس رسي فعالین د ښځو لپاره د عامه پوهاوي پروګرامونه په لار اچوي، ترڅو ښځې د خپلو حقونو په هکله پوه شي او اطلاعاتو د لاسرسي له لاری و کولای شي چې د خپل ژوند او خپلې کورنۍ د ژوند په هکله سمې پریکړې وکړي. په هغو ټولنو کې چې ښځې غوره اطلاعات او خبرتیا لري، د یوې داسې ټولنې ښکارندویې کوي چیرته چې خلک په خصوصی او عامه مسایلو کې د برخه اخیستنې وړتیا لري.

د اطلاعاتو د لاسرسي فعالین باید په دې هم پوه شي چې یوازی پوهاوی د سلوک او رویو بدلولو لپاره کفایت نه کوي. د پوهاوي چارې او تکتیکونه باید داسې ترتیب او ترسره شي چې دواړه طرفه، هم مسؤلین او هم خلک د خپلو کارونو، عادتونو او اړیکو بدلولو ته وهڅیږي تر څو اطلاعاتو ته د لاسرسي، د ټولو اړخونو په اهمیت پوه شي.

۴ د افغانستان د روڼتیا څار، دې موضوع ته اړوند په یوه څېړنه کار کوي

## وړتیا لوړونه


د کمیسیون د غړو، د دارالانشاء کارمندانو او د چارواکو د **وړتیا لوړونې** لپاره ګڼو هڅو ته اړتیا شته. اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به د مهمو دولتي چارواکو او مدني فعالانو سره لاس یو کړي چې خپلو غړو، کارمندانو او د عامه اطلاعاتو مامورینو ته د روزنې پروګرام برابر کړي. د وړتیا لوړونې نورې ستراتیژۍ، لکه خبرې، د وېبپاڼې له لارې ځانګړې مشورې، او پر دنده روزنه به هم په پام کې ونیول شي. د وړتیا لوړونې لپاره به په درېو برخو کار وشي؛ ۱) د اسنادو د مدیریتي سیستم سمول، ۲) د اطلاعاتو غوښتلو لپاره د خلکو ظرفیت لوړونه، ۳) د اطلاعاتو ورکولو لپاره د مسؤولینو وړتیا لوړونه:

۱. د وړتیا لوړونې لپاره به یوه برخه، په عامه ادارو کې د اسنادو د مدیریت په اصلاح کولو تمرکز وکړي، د اسنادو د مدیریت د ښه چارو او معیارونو پر بنسټ، په دولتي سکتور کې به د اسنادو د مدیریت د سمون لپاره ریښتیني نسبي معیارونه جوړ شي. د وخت په تېرېدو سره، چې کله دولتي بنسټونه وړتیا ترلاسه کړي، دا معیارونه لا ښه کېدلای شي. د نسبي معیارونو تحمیل باید د روزنو سره یو ځای پرمخ ولاړ شي، ترڅو هغه کارمندان چې د اسنادو د آرشیف او مدیریت مسؤول دي، په سمه توګه پوه شي چې دا کار څنګه وکړي.

۲. د اطلاعاتو لپاره د **عامه تقاضا** ډېرونې لپاره، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون به اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون د اغېزمن استعمال لپاره، د مدني ټولنو او رسنیو فعالانو د وړتیا لوړونې هڅه وکړي او ددې ډلو استازو ته به رسمي روزنې ورکړي. د مدني ټولنو مخکښې ډلې به وهڅول شي چې، خپلو شریکانو او سیالانو ته د اطلاعاتو د لاسرسي په برخه کې روزنې او ملاتړ لا ډېر کړي. په هر حالت کې به، روزنیز پروګرام د ښکېل سکتور اړوند موضوعاتو باندې تمرکز کوي (د مدني ټولنو لپاره د ټولنیز مسؤولیت رسول او د رسنیو لپاره د څېړنیز ژورنالېزم ترسره کول). کمېسیون به د قانون د کارولو لپاره هم لارښود تیار کړي، او د کمېسیون د پرېکړو او نورو توکو سره به دا هم په وېبپاڼه او نورو ځایونو کې موجود وي.

۳. د اطلاعاتو **غوښتنو ته ځواب**، هغه هم په لنډ وخت کې او په هغو شرایطو چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون لهخوا جوړ شوي، د قانوني مسؤولیتونو په اړه د دولتي چارواکو (د اطلاعاتو رسولو مسؤلین، د ادارو رئیسان) د پوهې او مهارتونو لوړولو پرته، په اسانۍ سره ترلاسه کېدای نشي. پر دې سربېره به مسؤولین، د غوښتنو لپاره د ځوابونو د وړاندې کولو لپاره، داسې سیستمونه په کار واچوي چې په روښانه ډول د اطلاعاتو د ځای څرنګوالی وښایي، او مسؤول پرېکړه نیووکې راوپېژني، ترڅو پوه شو چې اطلاعات د شریکولو دي، او که په استثنااتو کې راځي. د وخت په تېرېدو سره به عامه نهادونه به حمایت او وهڅول شي چې د اطلاعاتو په ورکړه کې په فعاله توګه ښکېل شي، ترڅو خلکو ته د اطلاعاتو د لاسرسي کچه لوړه کړي.

## په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي ملي ستراتیژي
## د بدلون نظریه



# تطبيقي پلانونه

| د تمرکز ځای: حکومتي پرېکړه نيوونکي او عامه نهادونه |
|---|
| د پايلو څرګندونې |
| دا ملي ستراتيژي حکومتي پرېکړه نيوونکو ته چې اطلاعاتو ته د لاس‌رسی قانون د ښه پلي کيدو لپاره يې کافي منابع تخصيص کړي، جوړه شوې ده، چې لدې جملې کولای شو د وړ کسانو ګمارل، په دولتي ادارو کې د اطلاعاتو د مديريت ښه کيدل، او دولتي کارکوونکو او عامو خلکو ته د اطلاعاتو د لاس‌رسي په هکله پوهاوي ته اشاره وکړو. تصميم نيوونکي بايد اصولاً په پاليسيو او تګلارو باندې کار وکړي ترڅو مالومات په ښه توګه ښکاره شي او په وخت سره د غوښتونکو پيشنهادونو ته ځواب وويل شي. حکومتي پرېکړه نيوونکي د پاليسی جوړولو د بهير په خپراوي او افغان ولس ته د ځيرېني، او اطلاعاتو ته لاس‌رسی د حق په ترويج کې فعاله ونډه لري. |

| د پرمختګ د ارزونې شاخص | د پرمختګ ځارنه | د پايلو محدوده | ستراتيژي | فعاليتونه (د ځارنې اړوند څو ګونې پرمختګونه) | متوقعه لاسته راوړنې | مهالويش | مسؤل نهادونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې تمه کېږي دولتي چارواکي او عامه نښستونه يې په لنډمهال کې ترسره کړي... | ۱,۱ د اطلاعاتو د ورکړې د مامور يا (PIO) مشخص کول | غوښتنليکونوته رسيده ګی | وړتيا جوړونه | 1a : کميسيون د اړونده نهادونو او مدني ټولنو په مرسته، ځانګړي روزنيز پروګرامونه او روزنيز توکي د دولت کارکوونکو ته چمتو کوي. | مالوماتو ته د لاس‌رسی روزنيز توکي او موډلونه، د روزل شويو کارکوونکو په منځ کې اطلاعاتو ته د لاس‌رسی د پوهې زياتوالي، د فعالو اطلاع رسوونکو مامورينو د شمير زياتوالی | لومړی ربع - څلورمه ربع ۲۰۱۷ | کميسيون |
| | ۱,۲ په موجوده ادارو کې د عامه پوهاوي لپاره د ځای ځانګړي کول | غوښتنليکونوته رسيده ګی | وړتيا جوړونه | 1b : کميسيون به د عامه نهادونو، مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون د جزئياتو د پلي کولو دنده ولري، لدې جملې د اطلاع رسونې د مامورينو مشخص کول، او د نهادونو د اجراآتو او نه اجراآتو د ارزونې کلنی راپور ورکول، کلنی راپور به د څو ګونو منابعو په اطلاعاتو او د اطلاعاتو د را ټولولو په ميتودونو ولاړ وي | د عامه نهادونو د اجراآتو په هکله مالومات، کلني راپورونه د عامه نهادونو د ارزونې او درجه بندي د سيستم سر يوځای | د۲۰۱۷، ۲۰۱۸، ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کال دريمه ربع (چې د حق پيژندې د نړيوالې ورځې سره سمون خوري) | کميسيون |
| | ۱,۳ د اطلاعاتو د ورکړې په موخه د انټرنيټي پاڼو د اپډيټ کولو لپاره د سرچينو تخصيص | د مالوماتو افشا کول | وړتيا جوړونه | 1c : مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون د پلي کيدو په اړه عامه نهادونه خپل مياشتنی راپور چمتو کوي | مياشتني راپورونه، اطلاعاتو ته د لاس‌رسی د غوښتنو او شکايتونو د راټولو لپاره انټرنيټي پورټال | د ۲۰۱۷ کال څلورمه ربع، وروسته کلنی راپور | کميسيون |
| | ۱,٤ د اسنادو او اطلاعاتو د مديريت معياري کړنلارو او طريقو په کار اچول | د اسنادو مديريت | حق غوښتنه | 1d : غوښتنو ته د رسيدګی لپاره به کميسيون داسې سيستم جوړ کړي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د انټرنيټي پورټال طراحي به له ځانه سره ولري او دا پورټال به د ښاروندانو د غوښتنو او شکايتونو لپاره و کارول شي | غوښتنو ته د رسيدګی لپاره روښانه لارښود چې کړنلاره او مسووليتونه مشخص کړي | مياشتنی | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت تر کنترول لاندې ټولې مسوولې ادارې |
| | ۱,٥ د کميسيون په مرسته په مربوطه ادارو کې د خپراوي پروګرامونه په لاره اچول | مالوماتو ته د لاس‌رسی ترويج | حق غوښتنه | 1e : کميسيون د وړتيا لوړولو او روزنې په موخه د عامه نهادونو سره مرسته کوي | د اطلاع رسونې مراجعو او وزيرانو په ګډون د ادارو د کارکوونکو د پوهې او مهارتونو لوړوالی | دوامدار | کميسيون، او ارتباطي نهادونه |
| | ۱,٦ غوښتونکو ته د اطلاعاتو د غوښتلو د فورمې ورکړه او د اطلاعاتو د غوښتنليکونو ترلاسه کول | غوښتنليکونوته رسيده ګی | حق غوښتنه | 1f : د کميسيون مالوماتو ته د لاس‌رسی انټرنيټي پورټال به د مامورينو په منځ کې د نظر او تجربو شريکولو او د اطلاعاتو د ورکړې په شکل کار کوي | | د ۲۰۱۷ کال څلورمه ربع، د ۲۰۱۸ کال دوېيمه ربع د روزنې لپاره | کميسيون |
| | ۱,۷ د اطلاعاتو ترلاسه کولو په موخه اړوندو شعبو ته د غوښتنليکونو ليږل | غوښتنليکونوته رسيده ګی | حق غوښتنه | 1g : د کميسيون د مالوماتو ته د لاسرسی انټرنيټي پورټال، د اطلاع رسونې مراجعو او د هغوی مديرانو ته زده کړه ورکوي او د استفادې نه يې ځارنه کوي. | د اطلاعاتو د غوښتنو ثبت او رسيدګی، د فعالو موارد و نه ځارنه او تعقيب، او په شواهدو ولاړه تصميم نيونه | د ۲۰۱۷ کال څلورمه ربع، د ۲۰۱۸ کال دوېيمه ربع د روزنې لپاره | کميسيون |
| | ۱,۸ کميسيون ته د غوښتنليکونو په هکله د منظم راپور لپاره د اړينو اطلاعاتو ترلاسه کول | غوښتنليکونوته رسيده ګی | | | د مالوماتو غوښتنو ته د ځواب ويلو د ارقامو منظم راټولول (کلنی) | کلنی | حکومتي تصميم نيوونکي او عامه نهادونه |
| | ۱,۹ د کميسيون د پيشنهادي مقرراتو او قواعدو د نهايي کيدو او تصويب په موخه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون د پلي کيدو لپاره د اړينو اقداماتو نيول | د حقوقي جوړښت انکشاف | حق غوښتنه | 1h : کميسيون د مدني ټولنې د فعالانو او مالوماتو ته دلاس‌رسی د حق متخصصينو په مشوره، اطلاعاتو ته د لاسرسی قانون ارزوي او د ښه والي لپاره يې تعديلات پيشنهاد کوي. | د افغانستان مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون ټول اړخيزه ارزونه او تحليل او د سمون لپاره يې د پيشنهادونو مجموعه، د کميسيون او د اطلاعاتو د غوښتونکو او ورکوونکو ترمنځ د همغږی زياتوالی | د ۲۰۱۷ کال درېيمه ربع (د ۲۰۱۷ کال د کلني راپور ورکونې د بهير د بشپړوالي په خاطر) د ۲۰۱۷ کال د څلورمې ربعې په جريان کې | کميسيون؛ د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر رهبري لاندې ارتباطي نهادونه |
| | | | حق غوښتنه | 1i : ارتباطي نهادونه د کميسيون د پيشنهادونو څخه په ګټه اخيستنې سره مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون د تعديل طرح چمتو، او د حق غوښتنې مواد تصميم نيوونکو ته ورکوي ترڅو د پاليسي جوړونې په بهير کې په پام کې ونيول شي | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې تمه کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه يې په منځ مهال کې ترسره کړي... | ۱,۱۰ د دولت په تشکیلاتو کې د اطلاعاتو د ورکړې پوسټ د ځانګړې دندو سره شاملول | غوښتنلیکونوته رسیده ګی | حق غوښتنه | ۱j : دعامه نهادونو د اطلاع رسوني د مامورینو ګمارنه به رسمي شي، لدې جملې به د دندو لیکل شوي لایحه دغه پسټ ته چمتو شي او د کمیسیون په مرسته به اړینې روزنې ورکړل شي | | د ۲۰۱۷ کال د ځلورمې ربعې په جریان کې | د عدلیې وزارت |
| | ۱,۱۱ د اطلاعاتو د ورکړې لپاره د بودیجې د برخې ځانګړي کول | د مالوماتو افشا کول | حق غوښتنه | | | د ۲۰۱۷ کال د ځلورمې ربع په جریان کې | د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر رهبري لاندې ارتباطي نهادونه |
| | ۱,۱۲ د قانون د ۱۴ مې مادې مطابق په انټرنټې او اجتماعي پاڼو کې د اطلاعاتو خپرول | د مالوماتو افشا کول | حق غوښتنه/وړتیا جوړونه | | عامه کارکوونکي د اطلاع رسوني د مسوولیت په درلودو رسماً ګمارل شوي | د ۲۰۱۷ کال د ځلورمې ربع په جریان کې | |
| | ۱,۱۳ د اسنادو او اطلاعاتو د مدیریت د پرمختللو کړنلارو او طریقو په لاره اچول چې یو یې هم د اطلاعاتو د بانک جوړول دي | د اسنادو مدیریت | حق غوښتنه | ۱k : ارتباطي نهادونه به د کمیسیون او اړوندو متخصصینو په مرسته د اسنادو د مدیریت او د مالوماتو د معیاري ډله بندي په اړه ارزونه وکړي | د اسنادو د مدیریت د وضعیت او د اطلاعاتو دسته بندي او د پلي کیدو وړ پیشنهادونو په اساس راپورونه | د ۲۰۱۸ کال لومړۍ او دریمه ربع | د عدلیې وزارت له کمیسیون سره، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د ملکي خدمتونو کمیسیون، او د امنیت ملي شورا |
| | ۱,۱٤ د کمیسیون سره د اسنادو او مدارکو د ډله بندۍ په برخه کې همکاری | د اسنادو مدیریت | حق غوښتنه | ۱l : د یادي ارزونې په اساس به ارتباطي نهادونه د اسنادو د مدیریت او د اطلاعاتو د ډله بندۍ نوی سیستم عامه نهادونو ته چمتو کړي او ددې معیارونو د جبري کولو لپاره به هڅه و کړي | لږ تر لږه پیاوړی معیاري رژیم، د معیارونو په عملي کیدو کې د دولت تعهد او د اسنادو د مدیریت نوی جوړښت | د ۲۰۱۸ کال ځلورمه ربع | ارتباطي نهادونه او عامه نهادونه |
| | ۱,۱۵ د اطلاعاتو د طبقه بندي په موخه د حقوقي چوکاټ جوړول او پیاوړي کول | د حقوقي جوړښت انکشاف | حق غوښتنه | ۱m : ارتباطي نهادونه به د کمیسیون په ملاتړ تعین شونو کارکوونکو ته، د اسنادو د مدیریت او د اطلاعاتو د معیاری ډله بندۍ ځانګړې روزنې ورکړي | د اسنادو د مدیریت او دسته بندي لپاره روزنیز توکي، د اسنادو د مدیریت د مامورینو د پوهې او مهارت د کچې لوړوالی د معیارونو د نوی رژیم د مخکې وړلو لپاره | د ۲۰۱۸ کال ځلورمه ربع | کمیسیون او ارتباطي نهادونه |
| | ۱,۱٦ په شعبو او ادارو کې په مستقل ډول د پوهاوي پروګرامونو په لاره اچول | مالوماتو ته د لاس رسی ترویج | وړتیا جوړونه | ۱n : کمیسیون د ارتباطي او د عامه سکتور د روزنیزو نهادونو په مرسته، مالوماتو ته د لاس رسي روزنیز موډلونه د ظرفیت د لوړوالی، او د اطلاعاتو د قانون د ښه درک په موخه چمتو کوي، چې د اطلاع رسونې د مامورینو په ګډون به د اړوندو نهادونو کارکوونکي هم وروزل شي | د اطلاع رسوني د مراجعو د مسوولینو لپاره منسجمي لارښوني او کمکي توکي، اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون مطابق د روزونکو روزنه | د ۲۰۱۸ کال د دوهیمي ربعې په جریان کې | کمیسیون |
| | ۱,۱۷ د اطلاعاتو د رسولو مسؤولین به د کمیسیون د لارښود نه کار واخلي | غوښتنلیکونوته رسیده ګی | وړتیا جوړونه | ۱o : کمیسیون به د اطلاع رسوني د مامورینو داخلي کړنلارې او لارښونې د ښه کېدو او د نړیوالو رویو سره د سمون په موخه وارزوي | د اطلاع رسوني د ماورینو لپاره د مسوولیتونو یو لارښود هغه څه چې په میاشتنی راپور کې، مالوماتو ته د لاس رسی د قانون په بنسټ اړتیا ده، ځای پر ځای شي | د ۲۰۱۸ کال ځلورمه ربع | کمیسیون |
| | ۱,۱۸ د اطلاعاتو رسولو په هکله د لاس ته راغلو شکایتونو د رسیدګی د کړنلارې را منځته کول | غوښتنلیکونوته رسیده ګی | | | شکایتونه په وخت سره او د قناعت وړ طریقې سره و ارزول شي، ترځو اطلاعاتو ته لاسرسی زیات شي | د ۲۰۱۸ کال ځلورمه ربع | کمیسیون او عامه نهادونه |
| | ۱,۱۹ د ټولني مختلفو قشرونو ته د اطلاعاتو د وړاندې کولو په موخه د څو اړخیزه او مناسبو ارتباطي وسیلو کارول | د مالوماتو افشا کول | وړتیا جوړونه | ۱p : عامه نهادونه به د غوښتنو او شکایاتو ته د داخلي سلوک ډول وضع کړي | د معیاري سلوکونو مجموعه د عامه نهادونو لپاره چې د اداري د اړتیا په اساس وضع کیږي، لیکل شوي لارښوني او د غوښتنلیکونو د لاسته راوړلو، رسیدګی، ارزونې او ځواب ورکولو کړنلاره | د ۲۰۱۸ کال ځلورمه ربع، د ۲۰۱۹ کال دوهیمه ربع | ارتباطي نهادونه او عامه نهادونه |
| | ۱:۲۰ د کمیسیون د خپلواکی او بشپړتیا د ډاډ لپاره، معلوماتو ته د لاسرسی په قانون کې د اړینو تعدیلاتو راوستل | د حقوقي ساختار انکشاف | حق غوښتنه | د ۱h شماره و ګورئ | د کمېسیون د غړو او مسؤولیتونو په تړاو د نړیوالو منلو شویو څېړنو په اساس د حق غوښتنې ځانګړې توصیې | ۲۰۱۸ کال د دریمي ربعې په جریان کې | کمیسیون |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې تمه کیږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه یې په اوږد مهال کې ترسره کړي... | ۱,۲۱ د اطلاعاتو د ورکړې او افشا د ځانګړې ټیم را منځته کول | د مالوماتو افشا کول | وړتیا جوړونه | ۱q : کمیسیون د ارتباطي نهادو په مرسته، مهم مرستندویه توکي د اطلاع رسونې مامورینو او عامه نهادونو ته وړاندې کوي ترڅو د قانون مطابق خپلې دندې سرته ورسوي. چې د روزنیزو پروګرامو او مالوماتو ته د لاس رسی د پورټال په مټ به توزیع شي | اطلاعاتو د لاسرسی پورټال، شکایتونو او غوښتنو ته د اطلاع رسوني د مامورینو ځانګړې لارښوونې، او اطلاعاتو ته د لاسرسی استثنائات | د ۲۰۱۹ کال لومړی ربع | ارتباطي نهادونه او عامه‌نهادونه |
| | ۱,۲۲ د قانون د ۱۴ مې مادې په اساس، په فعاله او نوښتګره ډول د اطلاعاتوورکړه | د مالوماتو افشا کول | وړتیا جوړونه | ۱r : عامه نهادونه د اطلاعاتو د افشا کولو مسوولیت خپلو کارکوونکو ته ورکوي او دا نهادونه به د اطلاعاتو د افشا کولو اړینې روزنې لاسته راوړي | ژمن، پوه او روزل شوي مامورین چې له خپلو مسوولیتونو څخه خبر وي، او اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون مطابق خپله دنده مخکې وړي | ۲۰۱۹ کال | ارتباطي نهادونه او عامه‌نهادونه |
| | ۱,۲۳ د اسنادو او مدارکو د یو ډول ډله بندی لپاره د حقوقي مقراراتو او موازینو په پام کې نیول | د حقوقي جوړښت انکشاف | | | | | |
| | ۱,۲٤ د وزارت په کچه په مرکز او ولایاتو کې د خبراوي د پروګرامونو په لاره اچول | مالوماتو ته د لاس‌رسی ترویج | وړتیا جوړونه | لکه څنګه چې تر دې مرحلې، اطلاعاتو ته د لاسرسی شریکان د بدلون راوستو په طریقو مخکې روان دي، هغوي تعهد او لوړ ظرفیت لري او په فعاله توګه خپلې کړنې سرته رسوي. د کمیسیون او ارتباطي نهادو لپاره اړینه ده چې د شرکاو کړونو ته په منظم ډول پام وکړي ترڅو ومومي چې څه ډول ستراتیژي او فعالیتونه کولای شي د حکومتي تصمیم نیوونکو او عامه نهادونو د ملاتړ په موخه په لاس کې واخلي. د کمیسیون ارزونې او فیډبک کولای شي د نظر وړ فعالیتونه او ستراتیژی د قانون د عملي کولو لپاره چمتو کړي. | | | |
| | ۱,۲٥ په وزارتونو کې مالوماتو ته د لاسرسي د حق نه ملاتړ او د پوهاوي په هکله د کار کوونکو د مسولیتونونه ډاډ ترلاسه کول | مالوماتو ته د لاس‌رسی ترویج | | | | | |
| | ۱,۲٦ د کمیسیون او ښاروندانو څخه، مالوماتو ته د لاسرسی په هکله د کارکوونکو د سلوک پوښتنه | مالوماتو ته د لاس‌رسی ترویج | | | | | |
| | ۱,۲۷ اطلاعاتو ته د لاس‌رسی د قانون د ښه کولو لپاره د نړیوالو میتودونو په کار اچول | د حقوقي جوړښت انکشاف | | | | | |
| | ۱,۲۸ مالوماتو ته دبشپړ لاس‌رسي په موخه د پالیسیو په کار اچول | د مالوماتو افشا کول | | | | | |
| د کمیسیون د تاسیس نه تر اوسه پورې په لاندې عامه او دولتي نهادو کې پرېکړه نیوونکي پیژندل شوي ترڅو د کمیسیون د ستراتیژي تابع واوسي: د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د عدلیې وزارت، د چارو د اداري عمومي ریاست، د فساد پرضد د مبارزي پارلماني کمیټه، د ECIR کمیټه، د اطلاع رسونې د مراجعو مسؤولین، د سیمه‌ییزو ارګانونو خپلواک ریاست، د حج او اوقانو ریاست، د لوړو زده کړو وزارت، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی وزارت، د ښځو د چارو وزارت | | | | | | | |

| د تمرکز ځای: د رسنیو فعالان |
|---|
| د پایلو څرګندونې |
| دا ملي ستراتیژي د رسنیزو فعالانو سره د مرستې په موخه چمتو شویده ترڅو دا بنسټونه، مالوماتو ته د لاس‌رسي د تګلارو او کړنلارو په کارونې سره د خوښې وړ مالومات لاسته راوړي او د نه د ترلاسه کیدو پر مهال خپل شکایت وشیړي. هغوی اطلاعاتو ته د لاسرسي په موضوعاتو کې د دولت او خلکو ترمنځ د ارتباطي پل په توګه کار کوي، د کمیسیون او مدني ټولنو په مرسته اطلاعاتو ته د لاسرسي د اجنډآ د پراختیا لپاره د عامه پوهاوی د ډېرښت په موخه کار کوي.<br>رسنیز لوبغاړي خپرنیزي لارې چارې پر مخ بیایي چې د ټولګټو ساتلو په موخه د ورځنیو او څېړنیز راپور ورکولو انډول وساتي او د افغانستان وګړي په بې‌پرې توګه خبر کړي. رسنۍ خپلو چارو او تګلارو ته، د دولت اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون څخه په ګټې اخیستنې په بې پرې توګه مسئول دي. |

| د پر مختګونو د ارزونې شاخص | د پرمختګونو ارزونکی | د پایلو محدوده | ستراتیژیک چوکاټ | فعالیتونه (د څارنې اړوند خو ګونې پرمختګونه) | متوقعه لاسته راوړنې | مهال ویش | مسئول بنسټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې تمه کیږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه يې په لنډ مهال کې ترسره کړي... | ۳٫۱ د کمیسیون اطلاعاتو او دندو ته د لاسرسي په اړه د معلوماتو څارل | د ریمګړو خلکو ته د مالوماتو د تقاضا رامنځته کول | پوهاوي ورکول | کمیسیون به د مالوماتو ته د لاس‌رسي د حق په برخه کې، له کارپوهانو سره کار وکړي، چې مالوماتو ته د لاس‌رسي کارولو لپاره د اړیکو یوه اغیزمنه استراتیژي تدوین کړي. | ګټو ډلو لپاره اطلاعاتو او کمپاینونو ته د لاسرسي لاسته راوړلو په موخه د برنامو جوړول | دویمه ربع-دریمه ربع ۲۰۱۷ | کمیسیون |
| | ۳٫۲ د عامه پوهاوي توکو څخه ګټه اخیستنه او څېړول یې چې کمیسیون جوړ کړيدي. | د ریمګړو خلکو لپاره د مالوماتو تقاضا رامنځته کول | پوهاوي ورکول | ۳b: کمیسیون به له ښکېلو بنسټونو سره، د ستراتیژۍ مطابق، د پوهاوي د توکو په چمتو کولو کې مرسته وکړي ترڅو د انټرنټي پاڼو او نورو لارو خپور شي. | مالوماتو ته د لاس‌رسي عمده خپرونکي توکي لکه رایجه پوښتنې، پوسترونه او بروشرې | څلورمه ربع ۲۰۱۷ | کمیسیون |
| | ۳٫۳ د کمیسیون په روزنیزو ناستو کې ګډون | مالوماتو ته د لاس‌رسي قانون څخه ګټه اخیستنه | پوهاوي ورکول | ۳c: کمیسیون به د رسنیو د لوبغاړو سره د مالوماتو ته د لاس‌رسي د اهمیت او کارونې ځانګړې روزنیزې ناستې، ددې بنسټونو د پیاوړي کولو لپاره چمتو کړي. | روزنیز توکو له ډلې څخه لاسي لیکونه (لارښود کتاب)، اطلاعاتو ته د لاسرسي لارو چارو د کارونې په اړه د حق غوښتنې لپاره د بریالیو پېښو لوستنې | څلورمه ربع ۲۰۱۷ | کمیسیون |
| | ۳٫٤ د مدني ټولنو له بنسټونو او افرادو له علمي تجربو څخه راپور ورکونه چې عملا مالوماتو ته د لاس‌رسي له حق څخه یی کار اخیستی وي. | د ریمګړو خلکو لپاره د تقاضا رامنځته کول | پوهاوي ورکول | ۳d: رسنیز لوبغاړي د مدني ټولنو او رسنیو له خپلواک کنسرسیوم سره همغږي کوي ترڅو اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه خبرونه او راپورونه وپیژندل شي. | اطلاعاتو ته د لاسرسي حق د اهمیت او ارزښت په اړه خلکو ته د عامه پوهاوی لوړولو څخه خبري راپورونه جوړول | په جریان کې | رسنیز لوبغاړي |
| | ۳٫۵ دننه اداراتو کې، اطلاعاتو ته د لاسرسي د بنسټیزه کولو په موخه ګټې لارې چارې لټول | مالوماتو ته د لاس‌رسي قانون څخه ګټه اخیستنه | ظرفیت جوړونه | ۳e: رسنیز لوبغاړي له کمیسیون او مدني ټولنو سره په همکارۍ د لویو ګټو په اړه د منظمو څېړنیزو راپورونو د چمتو کولو په موخه رسنیزه ستراتیژي او څېړنیزه تګلاره جوړوي. | څېړنیزې موخې او تګلارې، مسلکي، ښکاره او څرګند لارښودونه د خبرونو د چمتو کولو لپاره او پدې اړه مستند راپورونه | په جریان کې | رسنیز لوبغاړي |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه يې په منځ مهال کې ترسره کوي... | ۳,٦ اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې د پېښو او ناستو په اړه له مدني ټولنو او کميسيون سره همکاري | دريمګړو خلکو لپاره د تقاضا رامنځته کول | پوهاوی ورکول | ۳f: رسنيز لوبغاړي د پوهيدو د حق، د نړيوالې ورځې په تړاو خبري راپور چمتو کوي. | | کلنۍ (سپتامبر) | رسنيز لوبغاړي |
| | ۳,۷ مالوماتو ته د لاس‌رسۍ لارو چارو څخه دا غيزمنې ګټې اخيستنې په موخه د څېړنيزو راپورونو لپاره د نويو مهارتونو او پوهې څخه کار اخيستنه | مالوماتو ته د لاس‌رسۍ قانون څخه ګټه اخيستنه | وړتيا جوړونه | ۳g: رسنيز لوبغاړي چې د رسنيو د خپلواک فدراسيون تر پوښښ لاندې دي، د لويو ګټو په اړه مالوماتو ته د لاس‌رسۍ قانون پلې کيدل په عمل کې ارزوي او منظم څېړنيز راپورونه جوړوي. | د عامو مهمو موضوعاتو په اړه د لويو خبرو اترو د تېينګښت لپاره بې پرې او کره راپور ورکونه | په جريان کې | رسنيز لوبغاړي (IMC) |
| | ۳,۸ اطلاعاتو ته د لاسرسی د پياوړي کولو په موخه د عامه خدمتونو د منظمو خبرتياؤ طرح او خپرول. | دريمګړو خلکو لپاره د تقاضا رامنځته کول | پوهاوی ورکول | ۳h: رسنيز لوبغاړي مالوماتو ته د لاس‌رسۍ، د اداراتو د چارواکو مسئوليتونه او د کميسيون د رول په اړه له ګڼو لارو لکه (راديو، تلويزيون، خواله رسنۍ) ربع وار د عامه خدمتونو خبرتياوې چمتو کوي. | په پښتو او دري ژبو د عامه خدمتونو خبرتياوې (چې وروسته به تر څېړنې لاندې ونيول شي) | په جريان کې | رسنيز لوبغاړي |
| | ۳,۹ ددې ډاډ ترلاسه کولو لپاره د تدابيرو نيول چې د دوی کارکوونکي له کابل څخه بهر مالوماتو ته د لاس‌رسۍ روزنې او ملاتړنې ترلاسه کړيدي. | مالوماتو ته د لاس‌رسۍ قانون څخه ګټه اخيستنه | وړتيا جوړونه | ۳i: رسنيز لوبغاړي د خپلو ولايتي همکارانو ګډون لپاره د روزنې په عمده برنامو کې چې د کميسيون يا د نورو لورو لخوا تياريږي زمينه سازي ورته کوي. | مالوماتو ته د لاس‌رسۍ د محتوا په اړه د خبرياالانو روزنه او پدې اړه پريکړه چې څوک بايد نورو همکارانو ته روزنې ورکولو او راتلو دنده په غاړه واخلي. | په جريان کې | رسنيز لوبغاړي |
| هغه څه چې نه کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه يې په اوږد مهال کې ترسره کوي... | ۳,۱۰ د اطلاعاتو د تګلارو او معيارونو د پرانيستوالي په اړه د خبرو اترو او مناظرو په لاره اچولو نوښت | دريمګړو خلکو لپاره د تقاضا رامنځته کول | | | | په جريان کې | |
| | ۳,۱۱ په څېړنيزه خبريالی کې له پرانيستو اطلاعاتو کار اخيستنه | مالوماتو ته د لاس‌رسۍ قانون څخه ګټه اخيستنه | | * څرنګه چې تردې پړاؤ پورې اطلاعاتو ته د لاسرسي شريکان د بدلون له تګلارو سره يوځای مخته ځي، هغوی لوړې وړتياوې او ژمنتياوې لري او په خپلو چارو کې فعاله ونډه لري کميسيون او اړونده بنسټونو ته لازم دي چې په منظم ډول ددې شريکانو څارلو ته متې راونغاړي ترڅو پوه شي چې ددې بنسټونو د اغيزمن چلند د بدلون په موخه د رسنيزو لوبغاړو د ملاتړ لپاره کوم ډول ستراتيژي او چارې کولای شي په لاره واچوي چې د پرمختګونو په ارزونه کې منعکس شويدي. د کميسيون لخوا ارزونه او شاربل کولای شي د قانون د پلې کيدو او د چارو جريان وړاندې کولو لپاره ستراتيژي چمتو شي. | | په جريان کې | |

| د تمرکز ځای: د مدني ټولنو فعالان |
|---|
| د پایلو څرګندونې |
| دا ملي ستراتیژي د مدني ټولنو د فعالانو سره د مرستې په خاطر جوړه شوې، چې دا ټولنې له دولتي چارواکو او د عامه خدماتو د ارائه کوونکو څخه، د هغوی د ځواب‌ویلو د ژمنې پر بنسټ، د مالوماتو لاس‌رسی لپاره اغېزمنه حق-غوښتنه وکړي. دا ټولنې، مالوماتو ته د لاس‌رسي د حق څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې په اړه، لازمه پوهه، مهارتونه او وړتیاوې لري، چې هم یې د خپلو فعالیتونو د پراختیا لپاره کاروي، او هم ښاروندوانو ته ددې انګېزه ورکوي چې مالوماتو ته لاس‌رسی یې په ژوند کې ګټور دی. د مدني ټولنو فعالان په وار وار د ټولنې د مختلفو ډلو سره ناستې او مشورې کوي، ترڅو ځانونه ډاډه کړي چې په خپلو حق-غوښتنو فعالیتونو کې یې د هغوی لومړیتوبونه په پام کې نیولي دي. دا ټولنې یو بل سره، او د رسنیو همکارۍ، خپله پوهه، ستراتیژۍ او هڅې، مالوماتو ته د لاس‌رسي د ترویج او د افغان دولت مسؤول پېژندلو په خاطر، سره شریکوي او په همغږۍ مخکې ځي. |

| د پرمختګ د کچې اندازه کولو شاخص | د پرمختګ ارزونه | د پایلو محدوده | ستراتیژیکه‌ساحه | فعالیتونه | متوقعه‌لاسته‌راوړنې | مهال‌وېش | مسؤول‌نهادونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې تمه کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه یې په لنډمهال کې ترسره کړي... | ۲,۱ د کمېسیون د رول او اطلاعاتو ته د لاس‌رسي د مالوماتوتعقیب | د دریمګړو خلکو د غوښتنوملاتړ | پوهاوی | 2a: کمېسیون به مالوماتو ته د لاس‌رسي د متخصصینو سره کار وکړي، ترڅو مشخصاً مالوماتو ته د لاس‌رسي لپاره، د اړیکو اغېزمنه ستراتیژي تدوین کړي. | مالوماتو ته د لاس‌رسي د لاسته‌راوړنو لپاره پروګرام جوړونه او د بېلابېلو مخاطبینو لپاره کمپاین | د جریان په حال کې | کمیسیون |
| | ۲,۲ د کمېسیون له‌خوا د پوهاوي په اړه، د جوړو شویو توکو څخه ګټه اخیستنه او خپرول | د دریمګړو خلکو د غوښتنوملاتړ | پوهاوی | 2b: کمېسیون د ارتباطي نهادونو سره په همکارۍ، د اړیکو د ستراتیژۍ مطابق، مالوماتو ته د لاس‌رسي د پوهاوي توکي تیاروي، ترڅو په وېبپاڼو کې خپاره، او له نورو لارو ټولو ته ورسیږي. | مالوماتو ته د لاس‌رسي د ترویج مهم توکي، لکه پوسټرونه، بروشرونه او رایجې پوښتنې | د جریان په حال کې | کمیسیون |
| | ۲,۳ د کمېسیون په روزنیزو ناستو کې ګډون | مالوماتو ته د لاس‌رسي د قانون څخه ګټه اخیستنه | پوهاوی | 2c: کمېسیون به د مدني ټولنو فعالانو لپاره، مالوماتو ته د لاس‌رسي د اهمیت په اړه چې ددې نهادونو د کار په پیاوړتیا کې یې لري، ځانګړې روزنیزې ناستې دایرې کړي | روزنیزتوکي لکه لاسي کتابونه (لارښووونیز کتابونه)، د حق-غوښتنې لپاره، مالوماتو ته د لاس‌رسي د رویو د کارولو په اړه بریالۍ موردي قضیې | د ۲۰۱۷ څلورمه ربع او د جریان په حال کې | کمیسیون |
| | ۲,٤ مالوماتو ته د لاس‌رسي د طرزالعمل په اغېزمن تطبیق کې، د سرغړاوي په صورت کې د مالوماتو ترلاسه کول او د شکایتونو درجولو په موخه، د خپلې تخصصي زده کړې څخه ګټه اخیستنه | مالوماتو ته د لاس‌رسي د قانون څخه ګټه اخیستنه | وړتیا جوړونه | 2d: کمېسیون به د مدني ټولنو سره، د کلني راپور بهیر تعقیب کړي. | د مدني ټولنو په واسطه د مطرح شویو شکایاتو او غوښتن لیکونو د کره شمېر حسابونه | د جریان په حال کې | کمیسیون |
| | ۲,٥ د کمېسیون د پروګرامونو د کوربه سره موافقه | د دریمګړو خلکو د غوښتنوملاتړ | وړتیا جوړونه | 2e: کمېسیون به د مهمو رسنیو او علمي نهادونو سره، د حق پېژندنې د نړیوالې ورځې د لمانځنې په شمول، د پوهاوي ناستې ترسره کړي | د حق پېژندنې د نړیوالې ورځې بریالۍ لمانځنه؛ مالوماتو ته د لاس‌رسي د پېښو او څېړنو رسنیز پوښښ | د جریان په حال کې | کمیسیون |
| هغه څه چې تمه کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه یې په منځ مهال کې ترسره کړي... | ۲,٦ خپلو ټولنو ته د مالوماتو د لاس‌رسي د قانون د پوهې او محتوالېږد | مالوماتو ته د لاس‌رسي د قانون څخه ګټه اخیستنه | پوهاوی | 2f: مدني ټولنې به، مالوماتو ته د لاس‌رسي روبې د خپلو وېبپاڼو له لارې خپروي، چې ټرونې به یې مالوماتو ته د لاس‌رسي په پورټل کې هم موجود وي | | د ۲۰۱۷ څلورمه ربع | د مدني ټولنو فعالان |
| | ۲,۷ مالوماتو ته د لاس‌رسي د طرزالعملونو په کارولو کې، د خپلو همکارانو او لاس لاندې کسانو سره مرسته | د دریمګړو خلکو د غوښتنوملاتړ | وړتیا جوړونه | 2g: مدني ټولنې به، خپلو تابعینو ته د کمېسیون د ارتقایي توکو څخه په ګټه اخیستنې، مالوماتو ته د لاس‌رسي پروګرامونه ترسره کړي | ښاروندانو لپاره، مالوماتو ته د لاس‌رسي په اړه ساده او د لاس‌رسي وړ توکي | د ۲۰۱۷ څلورمه ربع او د جریان په حال کې | د مدني ټولنو فعالان |
| | ۲,۸ د درسونو او تکتیکونو شریکولو په شمول، مالوماتو ته د لاس‌رسي د موضوعاتو په اړه، د رسنیو او نورو مدني ټولنو سره د ګډ کار څخه ګټه اخستنه | مالوماتو ته د لاس‌رسي د قانون څخه ګټه اخیستنه | حق‌غوښتنه | 2h: تر ممکنه بریده به، د همغږۍ او ټول‌رسونې د اسانۍ په موخه، د کمیسیون یو غړی کارمند، مالوماتو ته د لاس‌رسي د اړیکو د شخص په حیث ګماري | د مدني ټولنو د ارتباطي نهادونو د اشخاصو د همغږۍ غیر رسمي شبکه | د جریان په حال کې | د مدني ټولنو فعالان |
| | ۲,۹ مالوماتو ته د لاس‌رسي د طرزالعملونو د سمون په خاطر، د کمېسیون سره خپل نظریات شریکول | مالوماتو ته د لاس‌رسي د نظام سمون | | 2i: په اړونده نهادونوکې، مالوماتو ته د لاس‌رسي د چارو څخه د څارنې مالوماتو راغونډول | په کلني راپور کې د ځایولو لپاره، مالوماتو ته د لاس‌رسي د حق کارولو اړوند اسناد راټولول، چې د سمون لپاره وړاندیزونه هم لري | د جریان په حال کې | د مدني ټولنو فعالان |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې تمه کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه يې په اوږد مهال کې ترسره کړي... | ۲،۱۰ د پرېکړه‌نيوونکو سره، مالوماتو ته د لاس‌رسی په اړه د حق-غوښتنې، ځانګړي پروګرامونه ترسره کول | مالوماتو ته د لاس‌رسی د نظام سمون | | ۲j: په ستراتيژيکو او د حق-غوښتنو پلانګذاريو کې، مالوماتو ته د لاس‌رسی موضوعاتو ته ځای ورکول | مالوماتو ته د لاس‌رسی لپاره د مدني ټولنو پياوړي او دوامدار فعاليتونه | د جريان په حال کې | د مدني ټولنو فعالان |
| | ۲،۱۲ په اړونده نهادونو کې مالوماتو ته د لاس‌رسی د سلوک نهادينه کول، او د خلکو ترمنځ په لويه کچه، مالوماتو ته د لاس‌رسی د کار ترويجولو لپاره، د کمېسيون سره منظم کار | مالوماتو ته د لاس‌رسی د نظام سمون | | *لکه څنګه چې تر دې پړاوه، مالوماتو ته د لاس‌رسی همکاران، د بدلون د لارې په وسيله مخکې ځي، هغوی لوړې ژمنې او ورتياوې لري او په خپلو چارو کې فعالانه چلند کوي. کمېسيون او ارتباطي نهادونو ته په کار ده چې د ښکېلو غاړو څار وکړي، ترڅو پوه شي چې څه ډول ستراتيژۍ او فعاليتونه کولای شي چې د مدني ټولنو د ملاتړ لپاره، ددې نهادونو د سلوک د اغېزمن بدلون لپاره، چې د پرمختګ په ارزونه کې ذکر شوي دي، پر لار واچوي. د کمېسيون له‌خوا ارزونه کولای شي چې ستراتيژۍ او اړوند فعاليتونه، د قانون د پلي کولو د جريان لپاره برابر کړي. | مالوماتو ته د لاس‌رسی لپاره د مدني ټولنو پياوړي او دوامدار فعاليتونه | د جريان په حال کې | د مدني ټولنو فعالان |

مالوماتو ته د لاس‌رسی د ملي ستراتيژۍ د پلي کېدا په لومړي پړاو کې، د کمېسيون غړو، د مدني ټولنو فعالان د هغوی کړنو او ستراتيژيو ته په کتو سره په دې ډول پېژندلي دي: د افغانستان د حقوقپوهانو اتحاديه، د افغانستان روڼتيا څار، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون، د افغانستان د مدني ټولنې انسټيټيوټ، د افغانستان د مدافع وکيلانو خپلواک انجمن، د افغانستان د مدني ټولنو مجتمع، د افغانستان د ړنو پانګونو شبکه، د افغان ښځو شبکه، د بشري حقونو او مدني ټولنو شبکه

| د تمرکز ځای: کميسيون |
|---|
| د پايلو څرګندونې |
| دا ملي ستراتيژي، مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون د اغېزمن تطبيق په پار، مالوماتو ته د لاس‌رسی د څار کمېسيون د سازماني وړتيا د جوړولو لپاره، تدوين شوي ده. له دولت او بسپنه ورکوونکو څخه، د خپلو داخلي طرزالعملونو او سيستم د پياوړتيا، د خپلو غړو او کارمندانو وړتيا لوړونې، او مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون او مقرراتو د پلي کولو په موخه، د مالي او اداري ملاتړ ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې کوي. کمېسيون تر اوسه په خپل اداري جوړښت، لازمې وړتيا او سيستم جوړولو کار کوي چې مالوماتو ته دلاس‌رسی د قانون پلي کول اسانه کړي، او نهايتاً د روڼتيا او مسؤوليت پېژندلو په پياوړتيا کې مرسته وکړي. |

| د پرمختګ د کچې اندازه کولو شاخص | د پرمختګ ارزونه | د پايلو محدوده | ستراتيژيکه‌ساحه | فعاليتونه | متوقعه‌لاسته‌راوړنې | مهال‌وېش | مسؤول‌نهادونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې تمه کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه يې په لنډمهال کې ترسره کړي... | ٤,١ د کمېسيون د چارو پرمخ بېولو لپاره د وړ کسانو د ګمارنې لپاره د مناسب چلند کارول | سازماني‌پرمختګ | وړتيا جوړونه | ٤a: کمېسيون خپل تشکيلاتي جوړښت د مشخصو پوستونو سره تياروي او بيا پوستونه اعلانوي | د کمېسيون د غړو د ټاکلو روښانه معيارونه او شرايط او د هغوی د دندو او مسؤوليتونو مشخصول | د ٢٠١٧ دريمه ربع | کميسيون |
| | ٤,٢ د غړو او کارمندانو د وړتيا لوړونې لپاره د زده کړو او نور خدماتو برابرول | سازماني‌پرمختګ | وړتيا جوړونه | ٤b: کمېسيون د ارتباطي نهادونو او مدني ټولنو سره په همغږۍ، خپلو غړو او کارمندانو ته روزنيز پروګرامونه او تعقيبي مرستې برابروي | مالوماتو ته د لاس‌رسی د زده کړو توکي او موډلونه؛ چې د کارمندانو ترمنځ مالوماتو ته د لاس‌رسی په پوهه کې ډېروالی راولي؛ د اطلاع رسونې مراجعو د فعالو مامورانو د شمېر ډېرول | د ٢٠١٧ دوېمه- څلورمه ربع | کمېسيون، ارتباطي‌نهادونه، د مدني ټولنو فعالان |
| | ٤,٣ شکاياتو ته د رسيده‌ګۍ په خاطر د داخلي جوړښتونو انکشاف او‌تطبيق | سازماني‌پرمختګ | وړتيا جوړونه | ٤c: شکاياتونو ته د رسيده‌ګۍ په موخه به کمېسيون په مختلفو برخو کې ځانګړې کمېټې جوړې کړي | د عامه نهادونو لپاره د معياري سلوکو ټولګې، چې د هري اداري د اړتياو پر اساس تياري شوي دي؛ ليکل شوي لارښودونه، او د مالوماتو د لاسته‌راوړنې، رسيده‌ګۍ، ارزونې او د ځواب طرزالعملونه | ٢٠١٨ لومړی ربع | کمېسيون |
| | ٤,٤ د حکومتي پرېکړه نيوونکو پر وړاندې، د کمېسيون د سازماني انکشاف او چارو د ملاتړ په موخه د مالي او اداري ترتيباتو برابرولو حق غوښتنه | سازماني‌پرمختګ | حق‌غوښتنه | ٤d: د دولت څخه د ملاتړ ترلاسه کولو په خاطر به، کمېسيون لازم توکي برابروي او بسپنه ورکوونکو او مهمو پرېکړه نيوونکو ته به يې ورکوي | د يو پياوړي کاري بهير او جوړښت او مجهزو منابعو او کارمندانو په شتون د کمېسيون موجوديت | ٢٠١٨ لومړی ربع | کمېسيون او ارتباطي‌نهادونه، په ځانګړې ډول د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |
| | ٤,٥ اشکاياتو ته د رسيده‌ګی لپاره پرليکه پورټال جوړول | دسيستمونو پرمختګ | وړتيا جوړونه | ٤e: کمېسيون به غوښتنو ته د منظمې رسيده‌ګی په خاطر، مالوماتو ته د لاس‌رسی لپاره انټرنټي پورټال جوړوي، تر څو ښاروندان پکې خپل شکايتونه درج کړي | د مالوماتو غوښتنو ته رسيده‌ګی لپاره روښانه لارښودونه، چې سلوک او مسؤوليتونه په ځانګړې ډول توضيح کړي | د جريان په حال کې | کمېسيون،بسپنه ورکوونکي،بهرني ماهرين |
| هغه څه چې تمه کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه يې په منځ مهال کې ترسره کړي... | ٤,٦ مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون او روبو د پلي کېدو په خاطر، مالوماتو ته د لاس‌رسی د ټولو ښکېلو غاړو سره ګډکار | سازماني‌پرمختګ | پوهاوی؛ وړتيا جوړونه | ٤f: کمېسيون به د ارتباطي نهادونو سره کار کوي چې د ستراتيژۍ په بنسټ ترويجي توکي برابر کړي او ويبپاڼې او نورو وسايلو له لارې يې خپور کړي | د پوسترونو، بروشرنو او رايجو پوښتنو په شمول، مالوماتو ته د لاس‌رسی د ترويج لپاره مهم توکي | د جريان په حال کې | کمېسيون، او د مدني ټولنو فعالان Nodal Bodies |
| | | سازماني‌پرمختګ | | ٤g: کمېسيون به په مهمو رسنيو او مدني ټولنو کې د حق پېژندنې نړيوالې ورځې د لمانځلو په شمول، د پوهاوي پروګرامونه ترسره کړي | د حق پېژندنې د نړيوالې ورځې بريالۍ لمانځنه؛ مالوماتو ته د لاس‌رسی د حق رسنيز پوښښ، مالوماتو ته د لاس‌رسي په اړه څېړنه | د جريان په حال کې | |
| | ٤,٧ د عامه نهادونو د کړنو د ارزونې په اړه د څېړنې طرح او پلي کول يې | څېړنې او خپرونې | حق‌غوښتنه | ٤h: د عامه نهادونو د څار او ارزونې د فعاليتونو په اړه به، کمېسيون يو پرتليز څېړنيز راپور جوړ کړي | د راپور خپرول | ٢٠١٧ دريمه ربع | کميسيون |
| | ٤,٨ د هغو سيستمونو او توکو جوړول چې پر مټ به يې، خلکو ته د مالوماتو رسولو د مکلفيت په تړاو، عامه نهادونه مسؤول او ځواب‌ويونکي اوسي | دسيستمونو پرمختګ | حق‌غوښتنه | ٤i: د څېړنيز راپور څخه د زده کړو پر بنياد به، کمېسيون مالوماتو ته د لاس‌رسی په اړه، د عامه نهادونو د فعاليتونو د ارزونې او درجه بندۍ سيستم جوړ کړي | په عامه نهادونو کې مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون د تطبيق د ارزونې په موخه، د اسنادو او شواهدو پر مټ، د سيستم جوړول | ٢٠١٨ لومړی ربع | کمېسيون او فني ماهرين |
| | ٤,٩ د مالوماتو راغونډول او د کلنې راپور خپرول | څېړنې او خپرونې | حق‌غوښتنه | ٤j: کمېسيون د عامه نهادونو فعاليتونه لکه د اطلاع رسولو مامورينو ګمارل، مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون د تطبيق لپاره، تعقيبوي. او په همدې تړاو د نهادونو د مثبتو او منفي کړنو د ارزونې کلنی راپور به جوړوي. دا کلنی راپور به د بېلابېلو سرچينو او د مالوماتو راغونډولو د مختلفو لاروچارو په وسيله تيار شي. | د عامه نهادونو د چارو په اړه د مالوماتو راغونډول، د عامه نهادونو د چارو د درجه بندۍ او ارزونې کلنی راپور | د ٢٠١٧، ٢٠١٨، ٢٠١٩، ٢٠٢٠ دريمه ربع (د حق‌پېژندنې نړيوالې ورځې سره سمون) | کميسيون |
| | ٤,١٠ شکايتونو او غوښتنو ته په اغېزمن او قناعت‌وړ ډول رسېدو لپاره، مالوماتو ته د لاس‌رسی د پورټال څخه پراخه ګټه‌اخيستنه | دسيستمونو پرمختګ | حق‌غوښتنه | ٤k: کمېسيون به، د اطلاع رسولو مامورينو او مديرانو ته، مالوماتو ته د لاس‌رسی د ويبپاڼې په اړه ځانګړې روزنه ورکوي، او همدارنګه ددې پورټال څخه د ګټنې څرنګوالی به هم ځاري | د مالوماتو غوښتنې په اغېزمن او قناعت‌وړ ډول ثبت او او ورته رسيده‌ګي؛ کمېسيون ته د راغلو قضيو او غوښتنو اغېزمن څار او تعقيب؛ د اسنادو او شواهدو پر مټ پرېکړې کول | د ٢٠١٧ د څلورمې ربعې نه د ٢٠١٨ تر دوېمې ربعې د زده کړې لپاره | کميسيون |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه څه چې نه کېږي دولتي چارواکي او عامه بنسټونه یې په اوږد مهال کې ترسره کړي... | ٤,١١ مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون مطابق، په بشپړ ډول د خپلو ټولو مسؤولیتونو ترسره کول | سازماني پرمختګ | | ٤l : کمیسیون به د افغانستان په اتو ولایتونو کې د اداري حضور په خاطر، یو بهیر جوړ کړي | د هېواد په اتو مهمو حوزو کې فعال کاري دفترونه؛ له پلازمېنې بهر، مالوماتو ته د لاس‌رسی څخه بشپړ ملاتړ | د ٢٠١٩ لومړی ربع | کمیسیون او ارتباطي نهادونه، په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |
| | ٤,١٢ مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون د تطبیق او رویو په اړه، مسؤولینو او حق-لرونکو ته لارښوونه کول | سازماني پرمختګ | حق غوښتنه؛ وړتیا جوړونه | ٤m : مالوماتو ته د لاس‌رسی د ٢٦ مې مادې پر بنسټ، د عامه نهادونو له خوا قانون څخه د سرغړاوی لپاره به، کمېسیون د تأدیب او مجازاتو طرزالعمل جوړ کړي. | د شرایطو او حالاتو مطابق، مالوماتو ته د لاس‌رسی د قانون ټولیز تطابق ډېرول | ٢٠١٩-٢٠٢٠ | کمیسیون او ارتباطي نهادونه، په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت |

اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون
کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات
Oversight Commission on
Access to Information

آدرس دفتر: سالنگ وات، سرک ده افغانان-
قوای مرکز، محوطه آرشیف ملی، کمیسیون
نظارت دسترسی به اطلاعات،

۰۰۹۳-۷۹۸-۸۰۲-۱۱۱
info@ocai.af
www.ocai.af